بسم الله الرحمن الرحیم

Ketabton.com

(c) ketabton.com: The Digital Library

د لنډو کیسو ټولګه

# ګرمه ګلۍ

لیک
زړګی علیخېل

سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه

(c) ketabton.com: The Digital Library

# د کتاب چاري د ليکوال په حق کې خوندي دي


| | | |
|---|---|---|
| ◈ کتاب | :: | ګرمه ګلۍ |
| ◈ لیک | :: | زړګی علیخېل |
| ◈ کمپوز | :: | زړګی علیخېل |
| ◈ اي مېل | :: | alikhailnajeeb@gmail.com |
| ◈ موبائل نمبر | :: | 03023823974 |
| ◈ پوښتۍ | :: | العکراش کمپیوټر ګرافکس |
| ◈ تعداد | :: | 500 |
| ◈ له خوا | :: | سباوون پښتو ادبي ټولنه کوټه |
| ◈ پبلشر | :: | ګواړخ پبلي کېشن جناح روډ کوټه |
| ◈ چاپ کال | :: | 2019ع |
| ◈ بیه | :: | 150 |

**د موندلو درک : السراج بک سینټر جناح سینټر جناح روډ کوټه**

کتاب پلورنځی، ریګل پلازه دکان نمبر ۷ جناح روډ کوټه

ال جان پبلشرز شېراني مارکېټ عبدالستار روډ کوټه

تکتو کتاب کور کاسي روډ کوټه

اباسین کتابونه پلورنځی، مین قصبه کالوني سټاپ اورنګي ټاؤن، نزد قلندري هوټل کراچي

پښتو اکېډمی بک شاپ، پېښور یونیورسټۍ پېښور

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ټړون

زما د ټولو خواخوږو

**یارانو**

په نوم چې زما د غم او ښادۍ ملګري دي

زړګی علیخیل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# ډالۍ

د

## سعادت حسن منټو

وسپېڅلي روح ته
چې قلم ئې رښتيا او بربنډه ليکل

زړګی علیخېل

(c) ketabton.com: The Digital Library

# لړ


| | |
|---|---|
| د زړګي عليخېل..... ماښام خټک | 7 |
| مينـه او منـنـه | 16 |
| (1) ګـرمه ګـلۍ | 19 |
| (2) وړونـد | 24 |
| (3) دنـده | 28 |
| (4) خط | 38 |
| (5) چـمچه | 49 |
| (6) ګـمان | 54 |
| (7) لاحـاصل بشـر | 56 |
| (8) لوبـته | 62 |
| (9) نخښه | 72 |
| (10) ويـلن | 75 |

(c) ketabton.com: The Digital Library



# د زرغونې علیخېل د افسانو جنسي حسیات

جنس پخپله یوه لویه موضوع ده او بیا که په نړیواله کچه په عمومي توګه او په ادب کې په خصوصي توګه او بیا په ادب کې هم په افسانه کې خاص الخاص توګه یوه لویه موضوع په هر دور کې پاتې شوې ده. چونکې د دې موضوع د ژوند سره ډېر انتهائي نازک تعلق دی، ولې چې د دې موضوع په اړوند موږ په یو خاص ټولنیز نظام کې د استوګنې له سببه خپل اصل هم لا د ریافت کولای شو او دغه رنګه د دې په وسیله د خپل ټولنیز تشخص د پېژندلو او پوهېدلو کومک هم ترلاسه کېدی شي، خو د ټولو نه اول دا خبره ضروري ګڼم چې اول جنس باندې خبره او شي چې جنس دی څۀ شی؟ جنس څۀ ته وائي؟ افسانه او جنسي کلچر څۀ شی دی؟ د جنسي افسانو موضوعات، جنسي رجحانات او روئې، جنسي انحرافات او د داسې افسانو په راتلونکې د اغېز په باب هم خبره او شي چې په دې کتاب کې په افسانو کې موجود جنس، جنسي مسائل او په نفسیاتو د پوهې کومک نۀ یوازې ترلاسه شي بلکې برلاسه هم شي.

په مشرقي ژبو کې جنس په ډېرو محدودو معنو کې راخستی شوی دی. لکه فرهنګ اصفیه کې د جنس د توري معنا ذات، قماش، نوع او صنف دی. هم دغه رنګ په فیروز اللغات کې ئې هم قریباً هم دغه معنې دي. ولې د

(c) ketabton.com: The Digital Library



انګرېزۍ پـه ډکشـنرو کـې د جـنس (Sex) د تـوري ډېـر پـراخ او وسـيع مفهـوم اخسـتی شـوی دی. پـه "Websters" ډکشـنرۍ کې د (Sex) مراد داسې اخستی شوی دی.

ژباړه: يعنـي نـر او ښـځه يـا نرينـه او ښـځينه کردارونـو لـه کبلـه يـا د دوی د کـرداري صـفاتو لـه سببه تـوپير او هغـه ټـول ځيزونـه د کومـو چـې تعلـق د جنسـي اسـودګۍ يـا د زېـږون سـره دی. يـا پـه دواړو کـې د موجـود جنسـي کشـش سـبب وي چـې دواړه د يـوه بلـه تقاضـا کـوي. دغسـي اکسـفورډ ډکشـنرۍ کې د جنس (Sex) وضاحت داسې شوی دی.

ژبـاړه: پـه عامـه توګـه د جـنس نـه مـراد پـه نـر او ښـځه کـې تـوپير يـا تميـز دی. خـو د جـنس د جديـد اسـتعمال لـه رويـه د توليـد پـه اعضـاؤ کـې د دوی د جوړښـت او پـه عمـل کـې د توپير يا تميز په حواله په نر او ښځې کې فرق دی.

د علـم سـماجيات لـه رويـه پـه حياتيـاتي بڼـه د نـر او ښـځې تـوپير يـا تميـز لـه وجې جنسـي رشـته يـوه سـماجي رشـته هم وي نو د جنسي ضرورياتو سره د دې تعلق جزوي وي.

ډاکټر ټوني ليک (Dr, Tony Lake) په ډېرو ساده ټکيو کې د جنسي تعلق وضاحت د جنس په حواله څه داسې کوي.

يعنـي د جـنس نـه مـراد د نـر او ښـځې د مـلاپ د پـاره د اعضـاء تناسـل د اشـتعال او بيـا د دغـه اشـتعال پـه نتيجـه کـې د پکاروني عمل ته جنس وائي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



غـرض مـذکر او مونـث یـا نرینـه او ښـځینه کردارونـو کـې د مشـترکه مخصـوص حیاتیـاتي تعلـق لـرو چـې دې تعلـق ته جبلي تعلق یا جبلت وایو.

ډاکټـر نعـیم احمـد د فرائیـډ پـه حـوالې د جبلـت داسـي تعریف کړی.

جـنس یـو پیدائشـي خلقـي رجحـان دی کـوم چـې د نفسـیاتي اعمـالو رهنمـائي کـوي. مـثلاً د حسـن جبلـت، ادراک، حافظـه، تفکـر او داسـي نـور. پـه رنـګ د نفسـي اعمـالو پـه هـدایت او رهنمـائي عضـویه یـو مخصـوص هـدف پـه لـور وړل، جبلـت تـه د یـو داسـي سیند یـا خـوړ سره تشـبیهه ورکـړی کېږي یـا شـوې ده کـوم چـي تـل تـر تلـه پـه خپلـو ټـاکلو او معینه لارو بهېږي.

د هـر جبلـت ځـه نـا ځـه مقصـد ضـرور وي. مـثلاً د جنسـي جبلـت تعلـق پـه بنیـادي توګـه د نسـل د بقـا سره دی او پـه دې حوالـه پـه انسـانانو او ځنـاورو کـې فـرق دی. پـه انسـانانو کـې د جبلـت د کـارروائي تعلـق د نسـل د بقـا سره سره د سـماجي عمـل سره هـم وي. (اګرچـې د داسـي صـورت تعلـق د شـعور او ارادې سره دی). ولـي ځنـاورو کـي د ځـه مقصـد د پـوره کولـو هـیڅ سـوچ نـهٔ وي بلکـې د ځنـاورو جبلـت، بـرائ جبلـت وي. ولـي چـې دوی کـي د جنسـي جبلـت د پکـاروني تعلـق د هـیڅ قسـمه سـماجي عمـل سره نـهٔ وي. د دې نـه مـوږ دا نتیجـه اخـذ کـولای شـو چـې پـه انسـانانو کـې جنسـي جبلـت د مخصوصـو رجحانـاتو تـابع وي او هـم د دې مخصوصـو

(c) ketabton.com: The Digital Library



جنسي رجحاناتو له کبله په ټولو انسانانو کې جنسیت (Sexuality) د خپلو سماجي یا ټولنیزو اړیکو او رشتو په حواله د مخصوصو رجحاناتو حامل وي. خو یاده دې وي چې د هیڅ قسمه رابطو یا اړیکو بغیر هم یو نر یا ښځه د جنسي کشش له رویه دوی یو بل ته جنسیت ظاهرولی شي. خو جنس او جنسیت د سماجي رشتو په حواله قابو کولای یا منظم کولای شي. کوم ته چې موږ سکه او ناسکه، خپلې او پردې رشتې وئیلی شو.

په پښتو ادب کې د جنس په موضوع خورو ور کار شوی دی، دا موضوع په نظم کې هم څېړلې شوې ده او په نثر کې هم. په شاعرۍ کې په اولسي ادب کې خصوصاً په ټپه او غاړو کې دا موضوع ځای په ځای څېړلې شوې او چېړلې شوې ده. خوشحال خټک په خپله شاعرۍ کې جنسیات خپله موضوع ګرځولې. حمید بابا هم دا موضوع ځای په ځای په کارولې. غني خان هم د دې موضوع نه کار اخستې. اشرف مفتون هم جنسي موضوع د خپلې شاعرۍ محور ګرځولې او نن سبا ئې ځوان کهول هم پکاروي. چونکې دې وخت زموږ موضوع افسانه ده نو ځکه د جنسیاتو د څېړنې او د حسیاتو د پاره تر افسانې ځان محدود ساتم.

په پښتو نثر کې په ناول او افسانه کې جنسي موضوع پکارولی، په ناول کې ماتو خان د جنسي موضوع یو ښکاره نامه ده. په افسانو کې هم دا موضوع ځای په

(c) ketabton.com: The Digital Library



ځـای پکـارولی شـوې چې طـاهر افریـدی، زیتـون بـانو، پـروین مـلال، فـاروق سـرور، حسـینه ګـل او داسـي نـور ئـې ښـکاره نومونـه دي. خـو زرګـي علیخېـل نجیـب پـه اول ځـل د افسـانو ټولګـه کـي جنسـي حسـیات پـه ډېـر جـرات، بـې بـاکۍ او د اصلاح په خوځښت کي را نغښتي ټولني ته وړاندي کړي.

د زرګـي علیخېـل نجیـب پـه دې ټولګـه کـي ټـول ټـال لـس افسـانې شـاملي دي چـي پـه یـو یـا پـه بلـه حوالـه جنسـي موضـوع پـه کـي زیـر بحـث ده. خـو د زرګـي علیخېـل نجیـب د دې افسـانو شـاته یـو اصـلاحي پیغـام دی. هـر لیکـوال لکـه چـي څنګـه نـوري سـتونزي پـه ټولنـه کـي وینـي او د خپـل لیـک موضـوع ئـې ګرځـوي هـم دغـه رنـګ جـنس هـم د ټـولني یـوه سـتونزه ده. خـو د ټـولني د فشـار لـه وجهـي پـرې څـوک قلـم نـهٔ پورتـه کـوي او ځانونـه پـرې یـا غلـي کـړي او یـا پـرې سـمجهوته وکــړي. خــو زرګــي علیخېــل نجیــب د دې ســتونزو پــه موضـوعاتو نـهٔ ځـان غلـی کـړی او نـهٔ پـرې سـمجهوتې تـه تیـار دی او چـي څـه ئـې پـه دې ټولنـه کـي لیـدلي، کتلـي، مشـاهده کـړي او دا هـر څـه ورتـه د یـو سـتونزي پـه شـکل کـي را وړانـدي شـوي نـو دهٔ خپـل قلـم تـه مـن و عـن سـپارلي او دې سـتونزو تـه ئـې د شـاعرۍ یـا د نـاول ښـه نـهٔ ده خپلـه کـړې، بلکـې د لنـډو کیسـو کینـوس ئـې ورتـه غـوره کـړی او دغـو سـتونزو تـه ئـې یـو داسـي افسـانوي رنـګ ورکـړی چـي پـه کیسـه کیسـه کـي ئـې سـتونزه هـم وړانـدي کـړې او د فـن لمـن ئـې هـم نـهٔ ده پـرې ایښـې. ګـو چـي کلـه کلـه ډېـر نیـغ پـرې راغلـی خـو فنکارانـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



ریاض کې ئې بیا زر ځان راژغورلی او خبره ئې په اشارو کینایو ته راوړې او د فن په کالو کې ئې خبره په ډېره حسینه پیرایه کې رانغښتې. دا افسانې ګو چې د موضوع له لحاظه خپله معنا تر سره کوي، ولې چې د ادب د قارې د پاره په کې د جنس نه په پورته هم ډېر څه شته.

ګرمه ګلۍ یوه اصلاحي افسانه ده چې د جنس په بنسټ خپله وظیفه تر سره کوي. ګرمه ګلۍ لکه چې د نوم نه ظاهره ده ذو معنی افسانه ده. لفظي او باطني دواړه معنې ئې د خوند دي. په دې افسانه کې ښاغلی لیکوال په دوو ذاویو د یو کردار له عمله خپل مقصد ته د رسېدو هڅه کوي او په ډېر ساده باده او واضحه ابلاغ تر دغه سنګمیله ځان رسوي. د دې موضوع که یو اړخ ته ډېره عامیانه ده ولې په باطن کې ډېره باغیانه ده او د دې افسانې دغه باغیانه عمل ئې د یو کردار "خانې" د منفي مشغوله نتیجه ده. په دې افسانه کې وینه ورکول، انجکشن او ګرمه ګلۍ هغه علامتونه دي چې که یو پلا د مرض او د مریض د صحت او د ژوند منلي او کوټلي اسباب دي نو بل اړخ ته د دې انجکشن یا د ستنې غلطه او نا مناسبه پکارونه او په ګرمه ګلۍ کې ټولنیز مریضانو ته د خپلو رګونو نه د هغوی رګونو ته د وینو انتقالول په خپله ځان انتقال ته سپارل دي. په دې افسانه کې ستن یا انجکشن یو داسې ژوندی علامت دی چې که یو پلا مړي رغوي نو بل پلا د ژوندو نه مړي هم جوړوي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



وړوند یو علامتي افسانه ده. خو علامات ئې ډېر ګونجلک نهٔ دی. ابلاغ په کې شته. دا افسانه په نفسیاتو او جنسیاتو اړانه ده. دا افسانه د حسیاتو سره تعلق لري. دا افسانه د وړوند په حسیاتو بحث کوي. د وړوند د بصر د نشتوالي له کبله د سماعت تېز والی یو په دوه شي او هغه د ځیزونو پېژندګلو د هغه د آواز نه په ښه طریقه کولی شي. دا افسانه هم په باطن کې اصلاحي افسانه ده چې پرده د ړانده نه هم کول پکار دی. که هغه دې نهٔ ویني نو تهٔ خو ئې وینې. د دې افسانې ابلاغ ډېر واضحه دی. هیڅ پیچیدګي په کې نشته. تر څه حده طنز او مزاح هم په کې شته چې د اصلاح اړخ ته اشاره کوي.

دنده افسانه یوه ساده او روانه افسانه ده. د موضوع لحاظ سره زړه ده. موضوع ئې موښلې ده او په دې موضوع یا د دې سره تړلې بلا افسانې لیکلي شوي. ولې د دې افسانې موضوع اصل ته‌رننګ پوائنټ د دربیم ګړي ده. په دې افسانه کې ستونزه د غلط سوچ او د غلط اپروچ ده. په ښځې د بدګمانۍ اظهار دی او د نر کردار ته په مخ یوه زورداره څپېړه ده.

خط، دا کرداري او مکالماتي افسانه ده. دې موضوع ته ورته ډېري افسانې په نورو ژبو کې لیکلي شوي، ډرامې او فلمونه هم جوړ شوي، په پښتو ادب کې د خطاطی او بیا د جینی ورسره اړیکه یوه نوې تجربه ده. ښه افسانه ده او د ډبل پارټ لکه چې اوله تجربه وي. په پښتو

(c) ketabton.com: The Digital Library



ادب کې د تجسس نه ډکه افسانه ده خو د انفرادي مشاهدو او تجربو یوه داسي بېلګه ده چي هرچاته اپیل کوي.

چمچه افسانه د ټولني په اجتماعي سوچ طنز دی. او اختتام ئې تکل ته ورته دی. خو که یو پلا د اسد خود کلامي دا افسانه خوندوره کړې ده بل پلا تکل ته ئې هم ورته کړې ده. خو افسانوي رنګ ئې بېللی نهٔ دی. د افسانې خواږه په کې تر آخره ځان ښودنه کوي.

ګمان، په دې افسانه کې تلوسه کمه ده، خو دا افسانه د رئیلیزم یا حقیقت نګاری داسي یوه بېلګه ده چي د داسي ستونزو په بیا بیا موږ په ټولنه کې مخ کېږي خو د صنفي امتیاز له وجهي په ټولنه کي هر سړي په داسي ستونزو ځان غلی کړی وي. باوجود د دې چي د حقیقت نه هر سړی خبر وي، ولي د یو بل سره ئې د وئیلو جرات نهٔ شي کوی او دا افسانه د یو داسي حقیقت ښکارونه کوي.

لا حاصل بشر، دا اصلاحي افسانه ده. په دې افسانه کې په جنس کي د اصلاح هڅه ده. مکالماتي افسانه ده او په زور دارو مکالمو اډانه لري.

لوبته، ښه افسانه ده خو پیغام ئې د علامت یا د تخلیقیت په ځای ډېر نېغ دی او د فني په ځای اصلاحي دی. ښه افسانه ورته په دې وایم چي که ظاهره په کې جنس دی نو پټه په کې د انس اصلاح هم ده.

نخښه، یوه عامه ساده او سوچه افسانه ده. په کردارونو اډانه لري. په ټولنه طنز دی. د کردارونو کمزوري

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرمه کلی                                زړګی علیخېل

په کې ښودلې شوې ده چې د نر او د ښځې په بې اعتمادۍ بنیاد لري.

ویلن، یوه اصلاحي افسانه ده. په ټولنه خصوصاً په ځوان کهول طنز دی او د ننني په پښتو فلمي کلچر هم یوه نیوکه ده چې ځوان کهول بې لاري کوي بلکې ډېر ئې بې لاري کړل.

الغرض په دې کتاب کې ټولې افسانې چې حوالې ئې ما راخستي، د دې مقصد په ټولني کې جنسي رجحانات او روئې په ګوته کول دي او د اصلاح هڅه کول دي. زما په خیال د دې نه دي هرګز څوک دا معنا نهٔ اخلي چې ګنې د دې نه د لیکوال خدای مهٔ کړه د فحاشۍ اړخ ته د ټولني د بوتلو هڅه ده. دا هم لکه د نورو ستونزو یوه ټولنیزه ستونزه ده چې د یوې داسي غټې تناکي په شکل کې موجوده ده چې د ټولني په رګونو کې له درده څړیکې وهي او د غه تناکي ته زړګي علیخېل نجیب د یو سماجي ډاکټر د قلم څوکه تېره کړې او نو او زوی ترې راباسي او صفا سوتره کوي ئې. چې یوازي مریض پرې نهٔ ښه کېږي بلکې د ټولني د خالصي اصلاح د پاره ترې ټوله ټولنه صحت یابه کېږي.

مننه

مابنام ختک ایډوکیټ

فرید چیمبر، کراچی

18-09-2019

(c) ketabton.com: The Digital Library



# مینه او مننه

د خدای پاک په فضل او احسان او د ملګرو پښتنو په ډاډ او مرسته دا ده د خوږې پښتو په چوپړ کې د رېیمه د لنډو کیسو ټولګه ستاسو مینه والو تر لاسو در ورسېده. د لوی متعال څښتن ډېر زیات شکر ګزاریم چې د خوږې پښتو و چوپړ ته ئې درولی یم.

د هرې ژبې ادب د هغه د تخلیقي ادب د لارې پېژندل کېږي.ژبه هلته بډایه کېږي چې په کومه ژبه کې د تخلیقي ادب پنګه درنه وي. زما په فکر په پښتو ادبیاتو کې د کیسه ایز ادب صنف د شاعرۍ د صنف په مقابله کې ډېر کم تخلیق شوی دی. زموږ د عصر لیکوالان ډېر کم د کیسه ایز ادب خوا ته توجه ورکوي، د شعر په میدان کې پیاوړي دي خو د کیسه ایز ادب په میدان کې بیا خال خال لیکوالان لګیا دي زیار کاږي. باید موږ د شعر د تخلیق سره سره د کیسه ایز ادب خوا ته هم توجه وکړو او خپله خوږه پښتو د نورو ګاونډیو مترقي ژبو په کتار کې ودروو.

د دې ټولګې پر لنډو کیسو څه تبصره کول نهٔ غواړم، د ښو او بدو پرېکړه ئې ستاسو پر علمي نظر پرېږدم، خدای دې وکړي چې ستاسو ادبي تنده درماته کړي او د پښتو کیسه ایز ادب په لمن کې یوه ګټوره اضافه وګرځي.

(c) ketabton.com: The Digital Library

ګرمه ګلۍ                                   زړګی علیخېل

دلته به زهٔ د هغو ملګرو مننه خپل فرض وګڼم چا چي په دې ټولګه کي خپل تر وسه څه نا څه ونډه شریکه کړې ده.

زړهٔ ته راتېر، د تکل د دنیا نوموړې څهره، زما ادبي ملګری او ډېر خوږ انسان ښاغلي ایډوکېټ ما ښام خټک صاحب یو جهان مننه کوم چي د دې ټولګي پر متن ئې خپله علمي رایه له تاسو سره په تحریري توګه شریکه کړه. هم دی ؤ چي د دې ټولګي د لنډو کیسو پر نفسیاتو پوهېدی. یو ځلي بیا ئې د زړهٔ له کومي مننه کوم. الله دي د دهٔ ښستي پر موږ نهٔ راولي. قلم ئې نور هم تاند او بهاند غواړم.

یاران به بیا سره یاران وي
غماز کمبخته هسي زړونه بدوینه

زما یاران.... د خدای په فضل دي خو بې شمېره او خدای دي ئې راته ژوندي او ګړندي لري، د خپلو ټولو خواخوږو یارانو مننه کوم چي ما ته هر وخت ډاډګیرنه راکوي، ما د پښتو ژبي و چوپړ ته هڅوي، خدای دي دوی تل آباد، خوشحاله او ښاد لري.

د سباوون پښتو ادبي ټولني کوټي صدر ښاغلي عباس شاه مخلص هم زښته مننه کوم چي د ټولني د اړخه ئې دا ټولګه خپره کړه.

په آخر کي زهٔ د ګران، خوږ او پر پښتو مئین ملګري **محمد نسیم خان توخي** د زړهٔ له کومي مننه کوم چي

(c) ketabton.com: The Digital Library

کرمه کلی                                                   زړګی علیخېل

د دې ټولګي مالي لګښت ئې په ورين تندي پر ځان ومنلی او دا ټولګه ئې د چاپ په ګېڼه ښائسته کړه. خدای دي داسي پر پښتو مئين ځوانان تل ژوندي، آباد او خوشحاله لري. آمين.

نور تاسو و کتاب لوستلو ته پرېږدم. والسلام

ستاسو

زړګی علیخېل

سهېلي پښتونخوا کوټه

19-09-2019

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګرمه ګلۍ

زموږ د کلي د هديرې په غېږ کې چې په ټوله سيمه کې لويه هديره ده، ډېر تنکي ځوانان په خواږه خوب ويده دي. څوک په بدی کښې، څوک په خدائي مرګ، څوک په ايکسيډنټ کې او څوک بيا په داسې جهاد کې له منځه تللي چې هغه د خپل نسلي ورور په خلاف روان دی دوام لري، او دې هديرې ته ئې مړي راوړي او په کې ئې ښخ کړي دي. نن چې زۀ په دې لويه هديره کې چې يو اوږد او په سلګونو کلونو تاريخ هم لري کوم قبر ته ناست يم دا د تنکي ځواني مرګ "خاني" قبر دی. د قبر په کتبه ورته خپلوانو ليکلي دي "ځواني مرګ خانی" . نن مې زړۀ غواړي چې ځواني مرګ خاني ته د مغفرت ډېرې دعاوې وکړم.

زۀ او خانی د وړوکوالي ملګرې وو. په سکول کې د لومړې ټولګي څخه بيا تر لسم ټولګي پورې، په محله کې هم سره ګاونډيان، زموږ د دواړو مېنډې لکه سکه خوېندې داسې سره ملګرې وې.

خاني کله هم له ما او ما له دۀ، د زړۀ حال نۀ وُ پټ کړی. تېر کال خانی ډېر سخت ناروغه شو، ډېر دارو درمل ئې ورباندې وکړل، خو د روغتيا پر خوا ئې ګام نۀ اخستی. د دې ناروغۍ له مخه خانی له تېرو درو مياشتو څخه و ښار

(c) ketabton.com: The Digital Library



ته روږد شوی ؤ. پلار ئې ښه پیسه درلوده، لوی کاروباري سړی ؤ، د خاني سره د پیسو کمي نهٔوه، هره ورځ به ئې ځان ښه تیار کړو او ښار ته به روان شو.

د خاني عمر دا وخت اوولس (۱۷) کاله ؤ. خامه ځواني ئې وه، د ځوانۍ توده وینه ئې په جوش کې وه، د فیشن ډېر شوقي ؤ، ما خو هیڅ کله هم دی په داسې غلطو لارو نهٔ ؤ لیدلی چې په هغه کې ځوانان د خپلې ځوانۍ او ګرمې وینې د لاسه ښکېږي او دویمه دا چې په خاني کې یو بل خصوصیت دا هم ؤ چې هغه به هر ضرورت مند ته د خدای د رضا د پاره وینه ورکوله، ولې چې د دهٔ د وینې ګروپ -O (او، نیګیټیو) ؤ چې دا وینه د ډېرو کمو خلکو وي.

ناروغي ئې ورځ په ورځ زیاتېدله، ټول وجود به ئې دړد کولو، مړهٔ تبه ئې په وجود کې خوره وره وه، یوه ورځ د خاني مور زموږ کور ته راغله او په ژړغوني لهجه کې ئې راته ووئیل چې

"زویه! تهٔ خو خاني یو ډاکټر یا ملا ته ورښکاره کړه، ورځ په ورځ ئې وجود ویلېږي، ستا خو هره خبره مني".

ما په جواب کې ورته ووئیل چې "ضرور، زهٔ به نن نن دی و یو ښه ډاکټر ته ښکاره کړم".

مور ئې بېرته په سرو سترګو ولاړه. زهٔ هم لږ ساعت وروسته د کوره ووتم او د خاني کور ته ورغلم. خانی په کور کې په خپله کوټه کې پر پلنګ پروت ؤ. ما قانع کړو چې ډاکټر ته ځو، دهٔ هم څه ضد ونهٔ کړ، په هم هغو بوی ناکو جامو

(c) ketabton.com: The Digital Library



کي راسره روان شو، دواړه زما پر موټرسائیکل کښېنستو او د ښار په خوا روان شو.

زما یو ملګری چي په یوه پرائیویټ هسپتال کي د یو نوموړي فزیشن ډاکټر سره اسسټنټ ؤ هغه ته ورغلو. هغه زموږ ډېر ښه هرکلی وکړی، د خاني د پاره ئې جوس او زما د پاره ئې شنې ترخې چای را وغوښتې. پر ډاکټر صاحب ډېر زیات رش ؤ، خو د ملګري په برکت موږ ته ډېر زر وار راورسېدی. ډاکټر صاحب ډېر خوږ انسان ؤ، د خاني و کېفیت او حالت ته چي ئې وکتل نو یو څو پوښتني ئې ځني وکړې. بیا ئې دوه ټیسټونه را ولیکل چي "دا ټیسټونه وکړئ او بیا ئې ما ته ښکاره کړئ". موږ د ډاکټر د کوټې څخه را ووتو، راغلو لیبارټرۍ ته، هلته ئې د خاني څخه تقریباً لس سي سي وینه واېستله او موږ ته ئې د نیم ساعت انتظار کولو ووئیل. موږ بېرته د هغه ملګري خوا ته راغلو چي د ډاکټر صاحب اسسټنټ ؤ. نیم ساعت مو د آخوا دې خوا مجلسونه وکړل، ملګري مي راته ووئیل چي "زهٔ ځم د خاني ټیسټونه راوړم". هغه د لیبارټرۍ خوا ته ولاړی، لږ ساعت وروسته بېرته راغی، د ټیسټونو رپورټ ورسره ؤ، موږ ئې ډاکټر صاحب ته وروستو، ډاکټر چي د خاني رپورټ وکتی نو ئې ووئیل، "دومره خاص کیسه نهٔ ده، ستا د هډو تبه ده، خدای به دي ښه کړي". بیا ئې پر پرچۍ دوا لیکل پیل کړو "ها دا واخله، پر وخت ئې ورکوئ، پرهېز دي بالکل نهٔ کوي، زړهٔ د خلاصه دي هر شی خوري".

(c) ketabton.com: The Digital Library



موږ هم را ولاړ شو د ډاکټر مننه مو وکړه. چې څنګه وتلو نو ډاکټر صاحب پر ما ږغ وکړی. "ځوانه! تهٔ ودرېږه". خاني ته ئې ووئیل چې "تهٔ دباندې کښېنه، زهٔ دهٔ ته ستا د پاره یوه دوا ورلیکم". خانی او زما ملګری دواړه دباندې ووتل، ډاکټر ماته د کښېنستو اشاره وکړه، زهٔ پر چوکۍ ډاکټر ته مخامخ کښېنستم. ډاکټر په افسرده لهجه کې راڅخه وپوښتل "دا ځوان ستا څهٔ دی؟".

"ډېر نږدې ملګری مې دی"

"ستا د ملګري ایډز دی"

"ایډز؟". له ما ئې لاري ورکې کړې، نهٔ پوهېدم چې دا ئې څهٔ راته ووئیل.

"هو، ایډز"

"لاکن ډاکټر صاحب! خانی خو ډېر شریف او خانداني ځوان دی". دهٔ خو هره څلورمه میاشت د خدای د رضا د پاره و ضرورت مندو خلکو ته وینه ورکوله، نو بیا څنګه کېدای شي چې دی......

"ایډز نهٔ شرافت ګوري او نهٔ خاندان، او دا هم کېدای شي چې دهٔ چې کوم وخت آخري ځل وینه ورکوله نو هغه وخت د وینې سرنج استعمالي شوی وي، د هغه څخه هم دا مرض خورېږي. لحاظه تاسو د دهٔ پوره پوره خیال وساتئ، د دهٔ سره بېخي لږ وخت دی، که وو ایم نو زیات نه زیات شپږ میاشتې، تاسو دی د دهٔ په ناروغي مهٔ خبروئ کنې په شپږو ورځو کې به سترګې پټې کړي".

(c) ketabton.com: The Digital Library



زهٔ را ولاړ شــوم، د ډاکټــر څخــه د رخصــت اخســتلو بغیـر د دهٔ د کـوټې څخـه را ووتـم. خـانی مخـامخ پـر یـوه چـوکۍ زمـا پـه انتظـار ناسـت ؤ. زهٔ چـي ئـې څنګـه ولیـدم نـو را ولاړ شــو. مــوږ دواړه د هســپتال څخــه دبانــدي راووتــو، پــه یــوه میـډیکل کـي مـو دوا واخســته، مـوټر سـائیکل مـو د سـټینډ څخـه را وباسـی او پـر کښېنسـتو. پـه دې وخـت کـي خـاني راتـه ووئیل چي

"یاره! زهٔو تاته یوه لاره دربښئیم پر هغه درځه".

مــاهم ورســره ومنلــه، د دهٔ پــر را ښــوولې لاره روان شـوم. کلـه پـه یـوه ګلـۍ کلـه پـه بلـه ګلـۍ کنبـي، آخـر یـوې تنګـي ګلـۍ تـه برابـر شـوم، خـاني وئیـل چي "پـر دغـه تنګـه ګلـۍ درځـه خـو لـږ پـه کـراره کـراره". زهٔ هـم پـه دې تنګـه ګلـۍ کـي روان شـوم. د ګلـۍ د هـر کـور یـا بیـا دویـم یـا درېیم کـور پـه مـخ کـي یـوه زنانـه بـه ولاړه وه. مـوږ تـه بـه ئـې ډېـر پـه مینـه او ځیـر ځیـر کتـل. آخـر لـه دې ګلـۍ ووتـم. خـاني پـه مسـکي کـي راتـه ووئیـل چـي "تاته در معلومه ده دې ګلۍ ته څهٔ وائي؟"

"نا". ما په جواب کي ورته ووئیل.

دهٔ پــه مســکي او رازداره انــداز کــي راتــه ووئیــل "دې ګلۍ ته ګرمه ګلۍ وائي".

زهٔ د خـاني پـه جـواب او د دهٔ پـه نـاروغۍ پوهـ شـوم چـي دی څنګـه او لـه کومـه ناروغـه دی.لاکـن هغـه وینـه چـي خـاني بـه هره څلورمه میاشت د خدای د رضا د پاره ورکوله.. هغه؟

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# وړوند

د خالقداد عمر اوس دېرشو کالو ته رسېدی، په سترګو وړوند، لاکن په صحت ښه برابر ؤ.
خالقداد د کونډې مور یوازینی زوی ؤ. دوې مشرې خوېندې ئې وې چې هغه هم ود شوې وې. په شل کلنې کې اکا (تره) ورله خپله لور ورکړه، خو د یو کال تېرولو وروسته هغه د خدای په کار شوه. خالقداد قسم وکړی چې دی به بل وادهٔ ونهٔ کړي. قسم ئې پر خپل ځای، خو دې وړوند ته چا خپله لور او خور ورکوله، هغه خو اکا ئې ؤ چې د دهٔ سره ئې دا ښېګړه کړې وه.
د خالقداد سترګې د وادهٔ څخه دوه کاله مخ کې د موټر په یو ایکسډنټ کې زخمې شوې وې. ډاکټرانو ورته آپریشن کړې، د آپریشن کولو وروسته د خالقداد د سترګو څخه چې پټۍ لېرې کړل شوې نو د خالقداد په سترګو د تیارې پردې پرتې وې. خالقداد ډېر زیات غمګین شو. ډاکټرانو ورله تسلې ورکوله چې دا تیاره به په کراره کراره په رڼا بدلېږي. خالقداد هم توري چشمې سترګو ته واچولې او په یوې نرۍ لکړه ئې ژوند پېل کړو. اوس نو د وړوند توب ئې اتهٔ کاله وتلې وو. خالقداد په لکړه دومره اموخته شوی ؤ لکه یو بینا کس چې په لاره او علاقه کې بلد وي.
خالقداد د خپل کلي څخه لېرې د غرهٔ په دامان کې د تربرونو کلی درلود. په دې تربرو کې ئې و یوه تربور ته مشره خور ناسته وه. کله نا کله به د خور حال احوال ته ورغی،

(c) ketabton.com: The Digital Library



پو ښتنه به ئې پر وکړه، بېرته به چا تربور خپل کلي کور ته راوستی.

دا ځل په دامان کلي کي د خالقداد د یوتربور د لور وادهٔ ؤ. د دهٔ و ټوله کورنۍ ته ست شوی ؤ. دهٔ هم غوښت چي ولاړ شي، خو خېر د کور د نورو ښځینه او نرینه وګړو سره وادهٔ ته ولاړی.

ښه د یخ شپې او ورځي وې، دوی د وادهٔ څخه یوه ورځ مخ کي لا ولاړو. خالقداد ډېر شوخ ؤ، ښې ګپې ئې کولې، د ځوانانو سره ځوان او د سپین ږیرو سره سپین ږیری ؤ. په ښځو کي چي به کښېنستی نو هغو به هم خوا نهٔ بدوله. ولي چي خالقداد وړوند ؤ، ښځي ئې نهٔ لیدلې. د ښځو به که مخ پټ ؤ که ښکاره که به ئې سر لوڅ ؤ که پټ د خالقداد په مخ کي ورته هیڅ مسئله نهٔ وه.

خېر د وادهٔ کار ؤ. خالقداد د خور سره د حال احوال په نیت لکړه په لاس کي د یو ماشوم په مرسته د ښځو خوا ته ورغی. خور ئې ډېره خوشحاله شوه. زر زر ئې په برنډې (برآمدې) کي ورته نیالي اواره کړه او مشر وروړ ئې پر کښېنوی. د کور په غولي کي تنکۍ تنکۍ انجوني لګیا وې اتڼ ئې کوی. دهٔ هم پر دریا او غاړو خوند اخستی ؤ. توري چشمې ئې په سترګو وې، د اتڼ په خوا متوجه ؤ، خور ئې ورته چای راوړې، د چای پیاله ئې په لاس کي ورکړه، دهٔ هم د چای او غاړو څخه دوه چند خوند اخستی ؤ.

په دې دوران کي یوه ځوانه او ډېره ښائسته ښځه د درو میاشتو ماشوم په غېږ کي راغله د خالقداد په مخ کي چار

(c) ketabton.com: The Digital Library



زانـو کښېنسـته. هغـه د خالقـداد د خـور د لېـوره لـور وه چـي دې ښـادي تـه راغلـې وه. هغـه خبـره وه چـي خالقـداد وړونـد دی. ماشـوم ئـې پـه غېږ کي پـرې باسـی، خپلـه لمـن ئـې راپورتـه کړه او ماشـوم تـه ئـې شـيدې (پـی) ورکـول پيـل کـړو. دا خالقـداد تـه مخـامخ ناسـته وه، د خالقـداد د ناسـتي انـداز داسـي ؤ چـي دی د اتـڼ خوا تـه متوجـه دی. ښځه د يـوې بلي ښځي سره پـه ګپـه اختـه شـوه، هلتـه ماشـوم خپلـي شـيدې رودلـې، پـه دې وخـت کـي د خالقـداد کېفيـت لـږ بـدل غونـدي شـو. پـر تنـدي ئـې خولـه راغلـه. د ښـځي ورتـه پـام شـو، زر ئـې پوښـتنه ځنـي وکـړه چـي "خالقداده! څۀ دروشو، خېر خو دی؟"

خالقـداد زر ځـان سـره راټـول کـړی وې وئيـل "هـيڅ نـۀ، هسي مي لږ ګرمي وشوه".

"پـه دې يـخ کـي دي ځنګـه ګرمـي وشـوه، طبيعـت خـو دي سم دی". ښځي بيا ځني وپوښتل.

"تـۀ داسـي وکـړه چـي يـو ماشـوم را وغـواړه چـي مـا هلتـه د سـرېو ځـای تـه بـوزي، دلتـه مـي سـاه تنګېـږي". خالقـداد ورتـه ووئيـل او خپلـه لکـړه چـي د دۀ سـره پـه څنـګ کـي پرتـه وه پـه ټپرولو را پورته کړه او ولاړ شو.

ښـځي هـم نـږدې ولاړ ماشـوم تـه ووئيـل "راشـه دا مامـا د لاسه ونيسه او دباندي ئې د سرېو ځای ته بوزه، هله شاباس".

خالقـداد چـي کلـه د هغـې ناسـتي ښـځي څنـګ تـه تېرېـدی نـو ئـې سـر کښـه نيـولی ؤ. پـه کـراره کـراره د کـور څخـه دبانـدي ووتـی. ماشـوم تـه ئـې ووئيل "مـا د سـرېو ځـای تـه مـۀ بيايه، لږ لېري د ساره ګشت د پاره مي بوزه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



ماشوم هم هوښیار ؤ، د اتو یا لسو کالو ؤ، خالقداد ئې د کوره ښه لېرې بوتی. خالقداد ماشوم ته ووئیل چې "بس تهٔ اوس ځه، زهٔ بیا خپله ځم". ماشوم هم دی هلته پرېښووی او د کور په خوا ئې ځنې منډه کړه.

خالقداد چې کله پوهـ شو چې ماشوم نشته، لکړه ئې یوې خوا ته وغورځوله.... واګې ته ئې لاس کړی.... د تشو بولو په بهانه...... په دوو تلو کښېنستی او چشمې ئې له سترګو....... لېرې کړې.

◯◯◯◯◯◯

(c) ketabton.com: The Digital Library



# دنده

د پنځویشت کلنې نازو د وادهٔ دوه کاله کېدل. د پرش کلن خاوند قیصر ئې په یوه پرائیویټ سیکیورټي کارډ کمپنۍ کې کار کوی. نازو تعلیم یافته وه، ښه کارنده وه. د جامو ګنډلو هنر ئې په لاس کې درلودی. خاوند قیصر بیا پرائمري فیل او د لاس د خوارۍ نهٔ ؤ. د سیکیورټي کارډ په کار کې به ټوله ورځ د دفتر مخ ته ناست ؤ، دوولس ګهنټې به ئې ډیوټي کوله، دهٔ غوښتی هم داسې کار چې ټوله ورځ ناست وي.

دوی چې په ښار کې په کومه محله کې اوسېدل د هغې محلې زیاتره نر او ښځه سهار د خپلو کارو پسې وتل او مازدیګر به راتلل. په دې محله کې یوه ښځه چې نوم خو ئې چا ته نهٔ ؤ معلوم خو ټولو به ورته باجي وئیل اوسېده. دې ښځې په این، جي، او کې کار کوی. د دې باجي اداري په کوم کې چې دې کار کوی دې ته په یوه بله محله کې د ښځو د زدکړې او ورسره د خیاطۍ یو سینټر خلاص کړی ؤ. باجي به د دې دواړو محلو و ښځو ته د عصري تعلیم سره سره د خیاطي زده کولو کورس هم ورکاوی. بیا چې به کله ښځو دا هنر تر لاسه کړی نو به ئې په آخر کې یو ستائنلیک (سرټیفیکټ) او یو د جامو ګنډلو مشین ورکړی چې دوی مخته په ژوند کې د خپلې کورنۍ مالي ستونزې پر اواري کړي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



د باجي او نازو ښه علیک سلیک او تلل راتلل ؤ. باجي د نازو د هنر څه خبره وه. هغې به هر وخت نازو ته وئیل چي "ته د دې هنر څخه خپله پېشه ولي نه جوړوې؟" نازو به انکار کولو او د قیصر په آمدني به ئې شکر باسی.

یوه ورځ باجي و نازو ته مشین راوړی، باجي نازو ته ووئیل چي "ته دا مشین درسره کښېږده، دلته په خپل کور کي کله نا کله جامې ګنډه، زه به و ښځو ته ووایم چي هغوی دي په تا خپلي جامې ګنډي". نازو خو اول ورته انکار وکړی، بیا ئې د باجي په ډېر اصرار هو وکړه او مشین ئې کښېښووی.

ورځي او شپې تېرېدې، خاوند قیصر هم ډېر خوشحال ؤ چي اوس د کور ګزران ډېر ښه روان دی. نازو هم د ښځو جامې جوړولې او ډېر اعلی ګنډل به ئې کاوی.

یوه ورځ د باجي سره یوه بله ښځه چي ډېر سینګار ئې کړی ؤ او په عمر پخه معلومېده راغله. د خبرو څخه داسي ښکارېده چي دا به ډېره شتمنه وي. ښځه جوړې جامې ئې و نازو ته ورکړې چي "دا په نوي نوي ډیزائنو کي را جوړي کړه. بیعه به ستا د مرضۍ وي". نازو هم "سمه ده" ورته ووئیل. باجي او ښځه بېرته ولاړې، نازو هم کښېنسته، بیاتي او ناپ ئې ورباندي راواخستی.

د قیصر د کور دباندي مخامخ پر تېره هر وخت دوه کسان ناست وو. په هر روان او را روان کس کي به ئې چرت وهی او بیا به ئې پر هغه خپل مجلس تازه کوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



په یوه هفته کې ئې پنځه سره جوړې جامې ور وګنډلې. ښځه هم راغله، جامې چې ئې ولیدلې نو ئې ډېرې زیاتې خوښې شوې.

"څنګه چې باجي وئیلي ؤ له هغې هم زیاته کارنده ئې، ها دا واخله ستا حق". ښځې د پرس څخه دوه د شنه زریانو نوټونه را وایستل او نازو ته ئې ونیول. نازو هم هغه پیسې ځنې واخستې. ښځې خپلې جامې واخستې او د روانېدو د پاره ولاړه شوه. چې کله ئې رخصت اخستی نو ئې نازو ته ووئیل چې "سبا به زما ډرائیور راشي او تاته به یو څو نوري جامې د ګنډلو د پاره راوړي". د دې خبرې کولو سره روانه شوه. نازو نن ډېره خوشحاله وه، ولې چې دې نن یو په دوه پیسې ګټلې وې.

په دا سبا د کور دروازه وټکېده، نازو د کور د دننه څخه بږغ ورباندي وکړو "څوک؟"

"دا جامې واخله میډم را استولي دي". د دباندي څخه بږغ وشو.

نازو ورغله، مخ ئې پټ کړی، دروازه ئې لږ خلاصه کړه او جامې ئې ځني را واخستې. بېرته ئې دروازه بنده کړه او کوټې ته راغله.

هفته تېره شوه، د کور دروازه وټکېده. نازو د دننه څخه بږغ وکړی "څوک؟"

"هغه د میډم جامې که جوړي شوي وي را ئې کړه"

(c) ketabton.com: The Digital Library



نازو پوه شوه چې د میډم ډرائیور دی نو ئې جامې په یوه کڅوړه کې واچولې او د دروازې په خوا روانه شوه. مخ ئې پټ کړی، دروازه ئې لږ خلاصه کړه او کڅوړه ئې په یوه لاس ور وباسله. ډرائیور کڅوړه څنې واخستله او پیسې ئې ورکړې.

"هغه میډم وئیلې چې په کور کې یو څه زنانې او ماشومان دي، د هغو جامې جوړول دي، که تاسو زما کور ته د لږ ساعت د پاره راشئ، نا پوهه واخلئ نو ستاسو به ډېره مننه وي".

"زما کور یکړ دی، زهٔ د خپل خاوند څخه پوښتنه کوم، تهٔ سبا راشه". نازو په جواب کې ورته ووئیل.

"هغه میډم وئیلې که ستا د موبائل نمبر وي را ئې کړه". ډرائیور د میډم بل پیغام هم ورکړی.

"سمه ده، تهٔ ودرېږه زهٔ ئې درته را اخلم". د دې جواب سره نازو خپلې کوټې ته ولاړه، پر یو کاغذ ئې خپل د موبائل نمبر ولیکی، بېرته دروازې ته راغله، هغه کاغذ ئې ډرائیور ته ورکړی، ډرائیور په ګاډۍ کې کښېنستی ولاړی. نازو خپلې کوټې ته راغله. دباندې ناست کسانو دا ټوله کیسه ولیدله او خپله ګپه ئې پر تازه کړه.

"یاره دا ښځه ما ته سمه نهٔ معلومېږي، تهٔ ګورې نهٔ چې هره ورځ یو څوک نه یو څوک ورته را روان وي. کله این، جي، او واله باجي کله میډم زلیخا او دا ګاډۍ واله خو

(c) ketabton.com: The Digital Library



هــره ورځ را روان دی، یــو شــی نــه یــو شــی بــه ئــې ورتــه را اخستی وي".

"هــو یــاره، زمــا هــم لــږ لــږ شــک پــر راځي. خاونــد ئــې تولــه ورځ د خپلــي غریبــۍ پســې ورک وي، دا هــر ســهار د کــوره وزي، لیاقــت بــازار چــوړي ګلــۍ تــه ځــي، تاتــه خــو معلومــه ده چــي چــوړي ګلــۍ څنګــه ګلــۍ ده؟ آښــه دا بیــا بلــه چي ځــان ئې ښــه سینګار کړی وي خــو زمــوږ پــه مــخ کي پــه پټــه پرده کي ځي". دا خبره دویم کس په طنزیه انداز کي وکړه.

پــه دا ســبا نــازو قیصــر نــۀ کــړی خبــر. خــدای خبــر چــي هېــر ئــې شــو کــه ئــې پــه کســته داسي وکــړل. د وېــري کــه لــه ډېــر اعتبــاره چــي خاونــد بــه مــي هــیڅ نــۀ راتــه وائــي. د میــډم د ډرائیــور ســره د میــډم پــه ګــاډۍ کــي پــه پټــه پــرده د شــا پــه سیټ کــي کښېنســته او د میــډم د کــور پــه خــوا روانــه شــوه. د نــازو هغــه دوو کسانو ته هیڅ پام نۀ وُ چي دې ته ئې په کوم نظر کتل.

دوارړه کســان نــن بیــاد قیصــر د کــور تــر مــخ پــر تــړه ناســت وو. دوی ولیــدل چــي نــازو پــه ګــاډۍ کــي کښېنســته او روانــه شــوه. یــو کــس و آبــل کــس تــه ووئیــل چــي "مــا نــۀ درتــه ووئیــل چي دا سمه ښځه نـۀ ده، هغـه ده د میـډم زلیخـا پــه ګــاډۍ کــي د هغې د ډرائیور سره ولاړه".

دویــم کــس پــه جــواب کــي ورتــه ووئیــل "هــو یــاره! مــا خــو دومــره شــک نــۀ وُ وربانــدي، لاکــن دا خــو د محلــې ګنــد وختـه".

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوی دا خبري کولې چې قيصر د يوې خوا څه سر پر ځړېدلی، مخ تک ژړ، په درنو درنو قدمونو راغی د کور دروازې ته ودرېدی. د کور پر دروازه کولف راځوړند ؤ. حيران شو چې دا کولف بيا څنګه؟ په دغه سوچ کي ؤ چې پر تره ناست کسانو کي يو کس پر ږغ کړل. "وروره! ستا ښځه پر کور نشته، هغه د ميډم زليخا په ګاډی کي کښېنسته او خدای خبر چېري ولاړه"

"ولاړه؟" د ځان سره ئې ووئيل او شرمنده هم شو. دواړه کسان ورته را پورته شول، نږدې ورته راغلل، يو کس ورته ګويان شو "وروره! دا محله د شريفو خلګو ده، دلته دا دندې نۀ چلېږي"

"دندې؟ څنګه دندې؟ زۀ پوهـ نۀ شوم". قيصر په حيرانتيا کي ځني وپوښتل.

"ځان مۀ اچوه، تۀ وائې مو ږ نۀ پوهېږو چې ستا ښځه کومې دندې کوي"

"تاسو غلط پوهـ شوي ياست، زما ښځه داسې نۀ ده" قيصر په جواب کي ورته ووئيل.

"که ستا ښځه داسې نۀ ده نو هغې د ميډم زليخا سره څۀ تعلق دی "دويم کس ځني پوښتنه وکړه.

"ميډم زليخا؟، زۀ ميډم زليخا نۀ پېژنم او نۀ زما د ښځې د هغې سره څه تعلق دی" قيصر بيا په حيرانتيا کي په جواب کي ورته ووئيل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"میډم زلیخا هغه ښځه ده چي په دې ښار کي د لویو لویو خلګو جنسي هوس و سړېدو ته ښځي سپلائي کوي. پخوا هغې پخپله دا دنده کوله، اوس د عمر په تېرېدو سره نوري ښځي و دې کار ته چمتو کوي او پیسي پر ګټي، څه دا اخلي او څه دې نورو ښځو ته ورکوي". اول کس ورته ووئیل او په برېتو ئې ګوتي ووهلې.

قیصر نور پریشان شو، حیران ؤ چي دې کسانو ته څه جواب ورکړي. دویمه چابي هم نهٔ وه ورسره چي د کور دروازه ئې په خلاصه کړې وای. د دې کسانو خبري وربانديو غمېدې، کرار کرار یوې خوا ته روان شو. کله به ئې سوچ کاوی چي نازو داسي نهٔ شي کېدی، هغه خو له ما سره ډېره مینه کوي. کله به ئې سوچ کاوی چي پیسه ډېره بده بلا ده، هر څوک په خپل منګول کي ټینګوي او بیا چي ئې زړهٔ غواړي هغه لاره په خپلوي. په دې سوچو کي تلی تلی ډېر لېري ورسېدی. بېرته ئې د ځان سره سوچ وکړی چي راځه کورته او د نازو څخه خپله پوښتنه وکړه چي ولي دي ما ته دهوکه راکړه. ولي دي زړهٔ پردی او پیسه خپله کړه. په دماغ باندي ئې غصه غالبه شوه، بېرته د کور په خوا را روان شو. چي کله خپلي محلې ته را ورسېدی نو چي کتل ئې یوه توره غټه ګاډۍ چي شیشې ئې هم توري وې راغله د دهٔ د کور مخته ودرېده. د دهٔ قدمونه وچ ودرېدل لکه چي مځکه ئې ونیسي. نازو ځني را کښته شوه، د دروازې کولف ئې خلاص کړی او کورته ننوته. ګاډۍ روانه شوه او

(c) ketabton.com: The Digital Library



د محلې ښځه ووته. دې هم درانه ګام په زړه کې د غم او غصې طوفان اخستی د کور دروازې ته ودرېدی. دروازه ئې وټکوله. د دننه ښځه بږغ راغی چې "څوک؟". دۀ پر بږغ کړل چې "ستا مرګ". دروازه خلاصه شوه، قیصر د یو تند باد په شان کورته ننوتی. په درام سره ئې دروازه بنده کړه. نازو نږدې ولاړه وه هغې چې ولیدل چې قیصر دی نو ئې د خُلې څه ناڅاپه ووتل "تۀ؟ تۀ څنګه دا وخت راغلې؟".

"ولې زۀ دا وخت نۀ شم راتلی... دا وخت بل څوک راځي که ستا د دندې وخت دی؟". نازو ئې د مړوند ښځه ټینګه ونیوله او په چغو چغو ئې ځنې وپوښتل او د ځان سره ئې کښوله کوټې ته ئې بوتله.

" څه کیسه ده چې دو مره قهرېدلی ئې، زما لاس پرېږده". نازو خپل مړوند ځنې د خلاصولو هڅه کوله. قیصر په چغو نارو شو، د خُلې ښځه ئې ځګونه غورځول.

"دا راته ووایه چې زما په مینه کې څه کمی راغلی ۇ چې تا دا دنده شروع کړه؟".

"کمه دنده، تۀ څه وائې؟" نازو هم په چغو شوه.

"ښه نو اوس دا هم زۀ درته ووایم چې کومه دنده..... د میډم زلیخا والا دنده.... بله کومه دنده..."

"تۀ غلط شوی ئې یا بیا چا غلط پوهه کړی ئې، زۀ خو د هغې کورته د ناپ د پاره تللې وم.... هغه....."

"بس بس، درواغجنې..... ما پخپله ولیدلې.... درواغجنې...... بې حیا....". په غصه شو، د خُلې ئې

(c) ketabton.com: The Digital Library



لاس واخستی هر څه چي په خُله ورتلل هغه ئې باسل. آخوا دې خوا ته ئې لکه لېونی کتل، په دا دوران کي د نازو د ګنډلو بیاتي (قینچي) په لاس ورغله، نازو ځان خلاصوی، د دواړو سره دعوه شوه، قیصر چغي وهلې "بې حیا...بد کرداري.... د پیسو د پاره تر عزت تېره شوې...." . نازو چغي وهلې چي "دا درواغ دي..... زۀ پر قرآن لاس در ته ږدم..... زۀ بې حیا نۀ یم..... تۀ پر خدای باور وکړه". نازو د قیصر لاس ټینګ نیولی ؤ په کوم کي چي بیاتي وه. لاکن قیصر سړی ؤ، طاقتور ؤ، نازو کمزورې، ښځه ذات.

ناڅاپه قیصر لاس د نازو نه خلاص کړی، بیاتي دا وخت خلاصه وه، په دې کش و بګیر کي بیاتي ولاړه د نازو د غوږ لاندي پر مغزي برابره شوه، د ویني یو داره را ماته شوه.... نازو هم هلته پر هغه ځای ولوېده.... نۀ ئې د خُلې اُف وختی او نۀ آه.

قیصر چي دا وکتل نو ئې اوسان خطا شول. د لږ ساعت د پاره په کوټه کي چپه چپتیا شوه. داسي لکه چي هیڅوک هم په دې کوټه کي نۀ وي. د نازو وجود د ویني د بهېدو سره کرار کرار رپېدی، سترګي ئې رډې را ختلي وې، رډ بډ ئې د کوټې و چت ته کتل پرته وه.

قیصر چي لږ په سود کي راغی نو له وامه په منډه د کوټې ووتی او د کوره وتښتېدی. هغه دواړه کسان چي دباندي ولاړ وو یو د بل سره وبونېدل. بیا کورته دننه راغلل، په کوټه کي چي ئې وکتل په کوټه کي ویني خورې

(c) ketabton.com: The Digital Library



وې او نــازو حلالــه شــوې مــړۀ پرتــه وه. دوا ړه پــه منــډه د کــوره را ووتــل. نــږدې پــولیس تهــانې تــه ورغلــل، پولیســان ئــې را خبــر کــړل، هغــوی را غلــل مــړی ئــې وکتــی. بیــا ئــې مــړی د پوســټ مــارټم د پــاره هســپتال تــه ولېــږی. پــولیس د دې دواړو کســانو ښځــه دا بیــان واخســتی چــې " دا کــس چــې قیصــر نومېــدی یــو نشــئي او خمــاري انســان ؤ. هــر وخــت بــه ئــې دا خپلــه ښــځه وهلــه، دا ښــځه ډېــره ښــه ښــځه وه. د پردیــو جــامې بــه ئــې ګنډلې او د کــور ګــزران بــه ئــې کولــو. نــن هــم قیصــر د دې ښــځې ښځــه د خمــار او نشــې د پــاره پیســې غوښــتې خــو د هغــې پــه انکــار قیصر دا ووژله او ولاړی وتښتېدی".

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# خط

زمــا د ملګــري نســيم جــان عجبــه عادتونــه وو. کلــه ئــې هــم خپلـه يـو کـار نـهٔ دی کـړی. ټـول کارونـه بـه ئـې پـه ملګـرو کـول او پـه ملګـرو کـي يـا زهٔ چـي پـه هـر کـار کـي بـه ورسـره ولاړ وم. کـه بـه د شـناختي کـارډ کـارؤ، کـه د پاسپورټ کـارؤ او کـه ئـې پـه هسـپتال کـي څـه مسـئله وه او کـه يـا د دهٔ د مئينتـوب مسـئله وه. يعنـي هـر کار ئې پر ما بند ؤ او د هر کار د خلاصولو چابي ئې زهٔ وم.

د دهٔ د مئينتــوب هــم عجبــه داســتان دی. هــره ورځ بــه مئينېدی، چېري چي به ئې شين ټکری ليدی نو به دی پر مئين شو. هغه د اردو مشهوره مقوله سم "دل پھینکا عاشق" ؤ.

يــوه ورځ زمــا دکــان چېري چي مـا خطـاطي کولـه، د خلګـو د دکـانونو سـائن بورډونـه او بينـرز مـي ليکـل، تـه راغـی. هسـي خـو بـه پـه هفتـه کـي درې څلور ځلي خامخـا راتلی، نـو پـه کومـه ورځ چي دی پـه کـوم نيت دکـان تـه راغـی نـو زهٔ پوهـ شـوم چي نسيم جـان نـن پـه بلـه بڼـه کـي دی. سـلام دعـا کولـو وروسـته ئـې راتـه خپـل فريـاد شـروع کـړو چـي "يـاره منشـي! تـهٔ خـو پـوهېږې چي پـه ټولـو ملګـرو کـي تـهٔ زمـا تـر ټولـو ښـه ملګـری ئـې"....... مـا خبره ورپـرې کـړه چي "مطلب دي وايه"

"يــاره يــوه انجلــۍ مــي خوښــه شــوې ده"...... مــا يــا خبره ورپرې کړه چي "دا خو څه نوې خبره نهٔ ده".

"تهٔ خبره خو يو واره واوره"....

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ښه وایه". ما په مسکي کي ورته ووئیل توجه مي د دهٔ خوا ته کړه او په خپل کار لګیا شوم یو بورډ مي لیکی.

"یاره زهٔ غواړم چي هغه انجلۍ ته د میني ډک خط ولیکم".

"دا خو ښه خبره ده" ما ورته ووئیل.

"یاره منشي ! تا ته خو معلومه ده چي زهٔ پرائمري پاس یم، نهٔ مي خط لیکل زده دی او نهٔ لوستل"

"نو بیا؟" ما ځني وپوښتل.

"نو بیا څهٔ. تهٔ د هغې په نوم یو خط را ولیکه بس". نسیم په حکمیه انداز کي راته ووئیل.

"د میني خط خو زما والله که زده وي چي څنګه لیکل کېږي او نهٔ مي دا دنده پخوا کړې ده، البته تهٔ مي یارئ کوشش به ضرور درته وکړم". ما ځواب ورکړو.

"بس، هر څه چي لیکې خو د میني محبت خبري په کي ولیکه". نسیم راته ووئیل.

"سمه ده، زهٔ به ئې سبا در ولیکم، نن دا بورډ لیکم". ما ورته جواب ورکړو.

"نهٔ، نهٔ، اوس اوس به ئې لیکې". نسیم بیا حکم راکړو.

"اوس ولي؟"

" د هغې د سینټر د چهټۍ وخت دی، زهٔ د ډاک واله جوړېږم او د چهټۍ د مخه ئې سینټر ته ورورځم".

"سمه ده". ما په خندا کي ورته جواب ورکړو، ولاړ شوم قلم او کاغذ مي راواخستل په خط لیکلو مي شروع وکړه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"آښـه دا راتـه ووایـه چـي نـوم ئـې څـهٔ دی؟". مـا څنـي وپوښتل.

"نوم ئې نازنينه دی" دهٔ جواب راکړو.

"ښه"

زما خوږې نازنيني! ښې چارې

هيلـه کـوم چـي روغـه جـوړه او ښـه خوشـحال ژونـد بـه تېروې. لاکـن زمـا ژونـد ستا بغېره نـهٔ خو ښه دی او نـهٔ خوشـحال. هغـه پـه دې چـي لـه کومـه ورځ چـي مـا تـهٔ ليدلې ئـې نـو د شـپې خـوب رابانـدي حـرام شـوی او د ورځـي سـکون رانـه خفـه شـوی. مـا د خپـل زړهٔ خبـره تاسـو تـه مخـامخ نـهٔ شـوه کـولی، پـه دې مـي درتـه د خـط ليکلـو جـرات وکـړی. زهٔ واقعـي سـتا د حسـن شيدائي شوی يم.

ستا خپل مئين

"هلکـه نـوم دي ولـيکم کـه نـا؟" مـا د نـوم ليکلـو پـه وخـت د نسيم څخه پوښتنه وکړه.

"نـا فـي الحـال ئـې مـهٔ ليکـه او د خـط د جـواب پتـه سـتا د دکـان وليکـه، زهٔ خـو هسـي هـم څـه ټهکانـه نـهٔ لـرم". نسـيم پـه جواب کي راته ووئيل.

"ياره موږ ولي په خرابوې" ما ورته ووئيل.

"هـيڅ والله کـه دروشـي، تـهٔ ئـې وليکـه". دهٔ پـه جـواب کي راته ووئيل.

خېـر مـا هم د ملګـري د پـاره قربـاني ورکـړه او خـط مـي پـه دا ټکو تمام کړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



ستا د جواب په طمعه، ستا خپل مئين

"ځيګرخون"

خط مي په يوه لفافه کي واچوی، خپل د دکان پته يعني "ځيګرخون آرټس، زونکي رام روډ کوټه" پر وليکله او نسيم ته مي ورکړو.

نسيم ډېر خوشحال شو، بغېر د سلام په منډه د دکان نه ووتی ورک شو. زهٔ هم بېرته خپل کار ته کښېنستم او د بورډ پر ليکلو بوخت شوم.

د دې ورځي وروسته هره ورځ نسيم جان به زما په دکان کي ټوله ورځ د خط د جواب په طمعه ناست ؤ. دوې هفتې تېري شوې خو هيڅ جواب نهٔ راغی. آخر نسيم تنګ شو راته ئې ووئيل "ياره! يو بل خط ورته وليکه".

"ياره لږ صبر وکړه را به شي ځواب". ما ورته ووئيل.

"نا کاغذ او قلم را واخله او شروع په وکړه". سم حکم ئې راکړی. ما هم ورته انکار نهٔ شو کولی، کاغذ او قلم مي راواخستل او خط ليکلو ته کښېنستم.

زما خوږې نازنيني! ښې چارې

هيله کوم چي ښه جوړه روغه او خوشحاله به ئې.

ستا د جواب په طمعه نهٔ رابانده ي شپه تېرېږي او نهٔ ورځ. د خدای په خاطر څه جواب خو راکړه، ولې مي داسي ځوکلوې. ستا د جواب په طمعه، ستا خپل مئين

"ځيګرخون"

خط وليکل شو، په لفافه کي بند شو بيا هغسي نسيم جان په منډه د دکان نه ووتی ورک شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



هفته تېره شوه یوه ورځ ډاکخانې واله ډاکیه راغی او ماته ئې ووئیل.

"د ځیګرخون صاحب ډاک دی"

ما ورته ووئیل چې "راکړه". لفافه ئې راکړه، په یو کاغذ ئې راڅخه دستخط واخستی او ولاړی. پر لفافه سربېره د نازنیني نوم لیکلی ؤ. زړهٔ مې ډېر وغوښت چې د نازنیني جواب وګورم چې څه ئې لیکلي دي، بیا مې فکر وکړی چې نهٔ د ملګري دی باید چې ملګری خپله دا لفافه خلاصه کړي او وې ګوري. لفافه مې د ټیبل په دراز کې کېښوده او خپل کار ته کښېنستم.

څو ورځې تېرې شوې خو نسیم دکان ته رانغی. یوه ورځ غرمه خوا ته هغه ډاکیه بیا راغی، یوه لفافه ئې راته ونیوله "ځیګرخون صاحب! ستاسو ډاک". ما لفافه ځنې واخسته، دستخط مې ورکړو او ډاکیه ولاړی.

لفافه مې د ټیبل په دراز کې د هغې لومړی لفافې سره کېښوده. ماښام چې کورته تلم نو مې دواړې لفافې په دې نیت د ځان سره واخستې چې نسیم ته به ئې کورته ورووړم، هسې هم د هغه کور زما په لار کې ؤ. سیدها د نسیم کور ته ورغلم، د کور دروازه مې ورو ټکوله، لږ ساعت وروسته د نسیم کشر ورور قسیم د کوره را ووتی. سلام دعا نه پس مې د نسیم پوښتنه ځنې وکړه. هغه په جواب کې راته ووئیل چې "هفته مخ کې زموږ پلار هغه د کار روزګار د پاره ایران ته ولېږی". زهٔ حیران شوم چې د تلو نه مخ کې ئې راڅخه رخصت هم وانخستی. څومره بې وفا وختی. د قسیم څه مې رخصت

(c) ketabton.com: The Digital Library



واخستی او د کور په خوا را روان شوم. کورته چي راغلم نو د ماخوستن ډوډۍ تیاره وه. ډوډۍ مي وخوړله، خپلي کوټې ته ولاړم، د سدرۍ (واسکټ) د جیب نه مي هغه خطونه را وایستل. زړۀ مي وغوښتل چي وې ګورم بیا مي وئیل نهٔ د ملګري دي خفه به شي راځخه. په دغه هو ، نا ، کي مي یوه لفافه خلاصه کړه، خط مي ځني را اوباسی، په خط کي لیکلی خط (خطاطي) ئې ډېره ښائسته وه. بالکل د یو کاتب په شان ئې لیکلی ؤ. ماته ئې خطاطي ډېره زیاته خوند راکړه. بالکل داسي ؤ لکه چي ما پخپله لیکلی وي. د خط متن داسي ؤ.

السلام علیکم....... ښې چارې

نهٔ پوهېږم چي ستا د خط څه جواب درکړم. نهٔ مي لیدلی ئې او نهٔ مي اورېدلی ئې. خو ستا خطاطي ډېره د کمال ده. زما ډېره خوښه شوه.

والسلام........نازنینه

د خط متن حیران کړم. ولي چي لیکلې خطاطي خو زما وه. لاکن د زړۀ خبره د نسیم جان وه. زر مي دویمه لفافه خلاصه کړه، خط مي ځني را اوباسی، د خط متن څه داسي ؤ.

السلام علیکم...... ښې چارې

ما اول هم درته ولیکل چي ما تاسو نهٔ لیدلي یاست او نهٔ اورېدلي یاست، لاکن که زما د زړۀ خبره اورېدل غواړې نو ستاسو خطاطي بالکل زما د

(c) ketabton.com: The Digital Library



خوښـي د خطـاط پـه شـان ده. ستاسـو خطـاطي زمـا ډېـره خوښه شوه. مننه

والسلام نازنینه

حیـران ئـې کـړم چـي دا خـو بلـه کیسـه ځنـي جـوړه شـوه. د نـازنیني خطـاطي هـم اعلـی خطـاطي وه. بالکـل زما د خطاطي په شان.

زړهٔ مـي وغوښـت چـي یـو بـل خـط ورتـه ولـیکم او معلومه ئې کړم چي دا څوک ده.؟

سـهار چـي دکـان تـه راغلـم نـو اول مـي کاغـذ او قلـم راواخستی او نازنیني ته مي خط لیکل شروع کړی.

اسلام علیکم خوږې نازنیني ښې چارې!

هیلـه کـوم چـي د ژونـد پـه شـپه او ورځ کـي بـه د خوشحالۍ شېبې درباندي زیاتي وي.

ستا خطونـه مـي ولوسـتل. تـا پـه کـي زمـا د خطـاطي ډېـر تعریـف کـړی ؤ، سـتا ئـې مننـه. سـتا پوښتنه دا وه چـي تـا زهٔنـهٔیم لیـدلی، نـو کـه مـا لیـدل غـواړې نـو زمـا دکـان چـي پـه زونکـــي رام روډ دی او د ځیګرخـــون آرټـــس پـــه نامـــهٔ دی راشـه. یـا د هغـه وروسـته تاسـو خپلـه فیصـله وکـړئ چـي زهٔ ستا سره د میني کولو حق لرم که نا.

والسلام

ستاسو خپل ځیګرخون

خــط مــي پــه لفافــه کــي واچــوی، پتــه مــي پــر ولیکله، نزدې ډاکخانې ته ورغلم او پوسټ مي کړی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دوې ورځې وروسته ډاکیه راغی، یوه لفافه ئې راکړه، دستخط ئې رانه واخستی او ولاړی. زر زر مې لفافه خلاصه کړه، د نازنینې خط ؤ، د خط متن داسې ؤ چې

السلام علیکم ځیګر خون صاحب

هیله کوم چې روغ جوړ به ئې. ستا خط مې ولوستی. واقعې زما هم ستا د لیدو ډېر شوق پیدا شو. هغه په دې چې ستاسو خط دومره ښائسته او نفیس دی نو تاسو خپله به څومره نفیس ئې. زما د استاد خبره چې د خطاطي څخه د انسان کردار معلومېږي. نو زهٔ به انشاالله د اتوار په ورځ سهار ستاسو دکان ته درځم. ولې چې د اتوار په ورځ زموږ د سینټر چهټی وي. نور مجلس به هم هلته کوو.

والسلام نازنینه

د نازنینې خط مې دوه ځلې ولوستی، نن د جمعرات ورځ وه، اتوار ته لا دوې ورځې پاتې وې. دا نن ورځ د سبا ورځ او د بل سبا ورځ او شپه رابانديې یو کال شول، بیخې نهٔ تېرېدې. آخر د اتوار ورځ هم راغله، دکان مې ښه صفا کړی، خپلې خطې فنپارې مې آخوا دې خوا په دېوالونو را ځوړندې کړې. لږ ساعت وروسته په برقعه کې یوه زنانه راغله، مخ ئې پټ ؤ، سلام ئې وکړو. زړهٔ مې راته ووئیل چې دغه ده راغله. ما ورڅخه پوښتنه وکړه "وعلیکم سلام جي". هغې ښځې مخ لوڅ کړو. ماچې ورته وکتل نو د ځُلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



نه مې ناڅاپه ووتل "ته، ته دلته څنګه؟" هغې له ماڅخه وپوښتل. "استاد جي تاسو دلته څنګه؟". زما د خطاطي شاګرده فهمیده زما مخته ولاړه وه.

"هو زه، راځه راځه دلته کښېنه". ما ورته نږدې پرتې چوکۍ خوا ته د کښېنستو اشاره وکړه. خپله هم پر یوه چوکۍ مخامخ ورته کښېنستم. زړه کې مې وئیل چې دا بیا له کومه خوا راغله. ټول جوړ کار ئې خراب کړو.

"استاد جي! دا ستاسو دکان دی؟"

"نا، دا زما د ملګري او د ډېر لوی خطاط ځیګرخون دکان دی". ما رښتونی حال څني پټ کړو او پوښتنه مې څني وکړه. "ته دلته څنګه؟".

"هسې تېرېدم په دې دکان کې مې پام شو نو را وګرځېدم". دا خبره ئې وکړه او شا وخوا ئې په دکان کې راځوړندو فنپارو ته وکتل.

"دا ستاسو فنپارې دلته څه کوي؟". پوښتنه ئې رانه وکړه.

"دا، دا مې دغسې ځوړندې کړې دي". ما هم فنپارو ته وکتل او جواب مې ورکړو.

"ځیګرخون صاحب چېرې دی؟". بیا ئې رانه پوښتنه وکړه.

"هغه دې خدای وبخښي یو کال مخکې وفات شو، دا دکان ئې ماته راپاته دی". جواب مې

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورکړو. دا ډېره پرېشانه شوه. لاندي ځمکي ته ئې کتل، بیا ناڅاپه ولاړه شوه "زهٔ ځم پر ما ناوخته دی".

"لږ ساعت خو کښېنه، چای یا شربت خو وڅښه". زهٔ هم ولاړ شوم او ست مي ورته وکړو.

"نا زهٔ ځم، د خدای په امان". دا په روانېدو شوه چي زما د څُلي نه ناڅاپه دا خبره ووته چي "تهٔ نن سبا څهٔ کوې؟ یعني څه کار روزګار دي پیدا کړی دی که نا؟".

"هو استاد جي، زهٔ په آرټ سینټر کي و انجونو ته خطاطي ښوونکې یم، ستا د دعا په برکت د خطاطي یو کتاب مي هم چاپ دی، د هغه ترون مي ستا په نامه کړی دی." راته ئې ووئیل.

"مبارک مبارک څهٔ نومېږي کتاب؟"

"خطِ نازنین". دې جواب راکړو.

په دې نوم اورېدو سره هک پک حیران شوم. د وجود وېښتان مي جګ جګ ودرېدل، فهمیده زهٔ خپل خوا ته متوجه کړم او د تلو رخصت ئې راڅخه واخستی. "استاد جي زهٔ ولاړم د خدای په امان". ما هم په مړهٔ څُله ورته د "خدای په امان" ووئیلو. زهٔ حیران وم چي دا خو هغه د خطونو والا نازنینه ده. خپل نوم ئې بدل کړی دی لکه ما چي نوم بدل کړی دی. هلته فهمیده ټوله لاره صرف په دې سوچ کي وه چي که ځیګرخون مړ دی نو ماته خطونه چا لیکل؟ داسي خو نهٔ دی چي منشي استاد راته لیکل؟ نا نا داسي نهٔ شي کېدی، منشي استاد ډېر

(c) ketabton.com: The Digital Library



شـریف دی، کـه هغـه داسـي کـول غوښـتنـو بـه ئـې پخـوا لا کړي ؤ چي څه وخت زۀ د دۀ پنځه میاشتي شاګرده وم.

د هغـــې ورځـــي وروســـته نـــۀ د نـــازنیني خـــط ځیګرخـون تـه راغـی او نـۀ د ځیګرخـون خـط و نـازنیني تـه. نازنینـه کـه مئینـه شـوې وه نـو صـرف او صـرف پـه هغـه خطـاطي مئینـــه شـــوې وه کومـــه خطـــاطي چـــي د دې د استاد و خطاطي ته سل فیصده ورته وه.

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# چمچه

لــه ســهار راهیســې وږی تــږی د کــوټې ښــار پــه واټونــو ګرځېــدی. یــوه پیســه ئــې هــم د څیــري او خیرونــو جـامو پـه یـوه جیب کـي نـۀ وه. غیـرت دې ځـي تـه رارسـولی ؤ چـي چاتـه ئـې د یـوې روپـۍ سـوال هـم نـۀ کـاوه. اوس نـو لـوږي زور وربانـدي وکـړو او دې سـوچ پـه مخـه کـړو چـي د دې میـرات مـړي نـس د ډکېـدو څـه چـاره پکـار ده. پـه سـر پــک، لــوئ برېتونــه، ببــره ږیــره، د ټیــټ (ګــړدي) قــد خاونــد، لــوئ خیــرن واســکټ ئــې اغوســتی، د قمــیض بټنـان ئـې خـلاص، تیـز اسماني شـنې جـامې ئـې پـه غـاړه، پــه خولــو لونــد غــوړ پــړ تنــدی نیــولی، چــوټې ئــې هــم یــوه شــکېدلې او یــوه تړلــې پــه پښــو، د سیټهــ مــوتي رام د ورو وګــودام تــه مخــامخ ودرېــدی. اوس نــو وخــت د ماښــام ؤ. سیټهــ مــوتي رام پــه ګــودام کــي مخــامخ ناســت پــه حســاب کتــاب بوخـــت ؤ. دی هـــم وګـــودام تـــه مخـــامخ ولاړ ؤ او سیټهــ مــوتي رام تــه ئــې ځیرځیــر کتــل. د سیټهــ مــوتي رام منشــي چــي یــو مســلمان ؤ و سیټهــ تــه نــزدې ډېــر پــه ادب ولاړ ؤ، پـه دۀ کي نظر شو. نابیره ئې پر دۀ ږغ کړو چي؛

څله دلته ولاړ ئې؟ ځه ورک شه.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سیټهـ هـم خپلـي سـترګي راپورتـه کـړې او د دهٔ پـه خوا ئې وکتل.

اسـد هـم وبرېـدی او د پـوډري غونـدي ئـې خپـل ځيګـر وګـراوه او د تـګ تکـل ئـې کـاوه چـي سيټهـ پـر بږغ کړو.

ودرېږه، دا واخله.

سیټهـ د لسـو روپـو يـو نـوټ و منشـي تـه ورکـړو چـي دې سـړي تـه ئـې ورکـړه. اسـد ودرېـدی چـي څـهٔ بـه راکوي.

منشـي راغـی او پـه قهـر لړلـي لهجـه کـي ئـې و اسد ته د لسو روپو نوټ ونيوو او ورته ئې ووئيل؛

آدا واخلـه، يـو خـو لـه تاسـو نـهٔ يـو خـلاص، تولـه ورځ تاسـو ياسـت او خيـرات دی. د دې وئيلو سـره منشـي بېرتـه دننـه ګـودام تـه ولاړی او اسـد د لسـو روپـو نـوټ پـه مـټ کـي ټينـګ ونيـوو او يـوې خـوا تـه روان شـو. اوس نـو پـه دې لسـو روپـو څـه خـوړل پکـارؤ، روان ؤ چـي پريـوه دکان ئې سترګي ولګېدلې چي پر ليکلي وو؛

( بمبئ بریانی، فی پلیٹ دس روپے )

زړه ئـې خوشـحاله شـو، روح ئـې تـازه شـو. چـي دکـان تـه ورنـږدې شـو نـو د بريـاني خـوږ بـوئ ئـې د سـپږمو د لاري و مغـزو تـه ولاړی. زر ورغـی پـه دکـان کـي پـر يـوه چـوکۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



کښېنستی. یو لس کلن ماشوم ورته راغی او ورته ئې ووئیل؛

سنگل یاڈبل؟

دۀ زر د لسو روپو نوټ ورته ونیوو، هغه چې د دۀ د لاسه نوټ واخستو نو نوټ د دۀ د لاس په خولو لوند شوی ؤ. دۀ ته ئې په تریو تندي وکتل او ورته ئې ووئیل چې؛

یہ نہیں چلتا.

دغه لرم، ډېر ورې یم.

ماشوم بېرته وګرځېدی او ناره ئې کړه.

ایک سنگل.

لږ سات وروسته ئې د اوبو ډک جګ او یو ګلاس راوړو د دۀ په مخ کې ئې پر ټیبل کښېنودو. دۀ زر ګلاس د اوبو نه ډک کړو او په یوه ساه ئې ګلاس تش کړو، بیا ئې بل ګلاس ډک کړو او هغه ئې په یوه ساه تش کړو.

لس کلن ماشوم راغی د دۀ و مخ ته ئې د بریاني پلیټ کښېنودو چې ورسره دوې چمچې وې. دۀ فکر او کړو چې دا یوه خو د خوراک چمچه ده نو دا بله بیا چې غابښونه لري د څۀ د پاره ده؟

(c) ketabton.com: The Digital Library



غربت او فاقو دې ځای ته رسولی ۇ چې د ځانه سره به لګیا ۇ خبرې به ئې کولې. د لږ سوچ کولو وروسته ئې ماشوم ته بږغ کړو ، هغه راغی

جی اور کیا چاہیئے؟

یوه پوښتنه کوم. دا یوه چمچه خو د خوراک ده او دا بله غابښ لرونکې چمچه د څهٔ د پاره ده؟

یہ گوشت کیلئے ہے.

ګوشت؟

ہاں جی.

کوم دی ګوشت؟

بریانی میں ہے.

دهٔ زړ د خوراک چمچه را واخسته او په بریاني کې ئې ووهله. لاندې یوه بېخې وړه د چرګ غاړه پکښې پرته وه. دهٔ چې ورته وکتل نو د ځانه سره ئې وخندل او دې چمچو ته ګویا شو.

های چمچو! تاسو هم څومره د کار یاست. چې قد مو غټ وي نو په لوئ دېګ کې کار ورکوی. چې قد مو برابر وي نو په کوچنې دېګ کښې. چې قد مو وړ وي نو د خوراک د پاره یاست. چې قد مو زما غوندې بېخې کوچنی وي نو د چائ په لړلو کې کار ورکوی.

(c) ketabton.com: The Digital Library



تاسو هم عجيبه ياست، اواره چمچه، غابن داره چمچه، جالۍ داره چمچه، واه ، عجيبه نومونه او رنګونه لرى. په کورکي بيا د زنانو په لاس کي او د نرانو پر سرو د يو لوى هتيهار په توګه استعماليږى. زما خو هېري سواست، تاسو خو انساني خصلت هم لرى. د هر شتمن په ځنګ کي ياست، د افسرانو په ځنګ کښي، د ملايانو په ځنګ کښي، د سياسي ليډرانو په ځنګ کښي، واه چمچو واه. لکه ځنګه چي هغه منشي د هندو سيټهه په ځنګ کي چمچه ؤ.

اسد و چمچو ته مخاطب د ځانه سره لګيا ؤ، چمچه ئې راواخسته او په بريانى ئې د نس دوزخ ډکول پيل کړو.

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ګمان

د هغــــې د ســـتر ګو مختـــه کـــرار کـــرار تیـــاره خورېـــده..... پښـــو ئـــې کـــار پـــرې ایښـــی ؤ.....وړې ســـتر ګي.....ګول غـــنم رنګـــې څهـــره ئـــې مـــړاوي کېدله..... د حسینې حسن وار په وار پیکه کېدی.

وینـــه..... تکـــه ســـرۀ وینه.....خنـډه وینـــه..... کومـه چـې د هغـې د مړونـد څخـه بتـدریج روانـه بهېدلـه ، پـــه وجـــه پـــر هغـــې کمـــزوري خـــوره کـــړې وه. زړۀ ئـــې ډوبېـدی...... د نـبض رفتـار ئـې وار پـه وار کمېـدی...... د کــوټې د دروازې ګُنــډې کومــه چــې لــه دننــه څخــه بنــده وه....... تـه ئـې ډېـر پـه مایوسـۍ کتـل...... د کـور ټـول وګـړي پـه خپلـو خپلـو کوټـو کـې داسـې ننـوتې وو...... لکـه موږکـان چـې د پیشـو د وېـرې پـه خپلـو سوړو کـې پټ شوي وي.

د حســـینې د لاس نـبض پـرې شـوی ؤ..... هغـې د خپـل ژونـد وروسـتۍ سـاهوي اخسـتلې..... سـاه ئـې وار پـه وار تنګېدلـه.... او داسـې تنګېدلـه تـۀ بـه وائـې چـې یـو چا د ستوني نه نیولې ده.

د شـپې یـوولس بجـې وې....د کـور ټـول وګـړي خپلـو کوټـو تـه د ویدېـدو د پـاره تللـي وو. پنځويښـت کلنـه

(c) ketabton.com: The Digital Library



غنم رنګې حسینه کومه چې یوه ډېره هوښیاره او نیکه انجلۍ وه خپلې انا ته دوا ورکړه او خپلې کوټې ته راغله. څنګه چې ئې د کوټې دروازه د ننه څخه ګنډې کړه او د خپل پلنګ خوا ته را وګرځېده ناڅاپه د هغې پښه د یو لوی شي سره ولګېده او دا ولاړه پر مخامخ پرته د شیشو پر ګلادنۍ ونښته چې له کبله ئې بدبختانه د لاس نبض پرې شو.

لومړی خو هغې فکر وکړی چې دومره خوږ نهٔ دی، معمولي پرې دی، لاکن کرار کرار د وینې د زیات بهېدلو په وجه د دې پر سترګو تیاره خوره شوه..... ژبه ئې ګونګه شوه.... پښو ئې بالکل کار پرېښودی..... دا پوهـ شوه چې د دې آخري وخت راغی..... دې په زړهٔ زړهٔ کي ووئیل چي

"خلک به وائي چي حسینې خودکشي کړې ده.... زما د جنازې لمونځ به هم د وخت ملایان نهٔ ورکوي.... پر ما به قسما قسم فتوې لګېږي.... زما مور او پلار به له شرمه چا ته مخ نهٔ شي ښکاره کوی.... زما ورونه به د خلګو پیغورونه اوري...... زما وربندارګاني به په خپل پلرګنۍ کي پر ما خبري جوړوي.... لاکن زما خدایه! ته ښه خبر ئې چي ما خودکشي نهٔ ده کړې". دا ئې په زړهٔ کي ووئیل، کلمه ئې تېره کړه او سترګي ئې پټې کړې.

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لا حاصل بشر

عشق هم کله حاصلېږي؟ او که بیا حاصل شي نو هغه ته موږ عشق وئیلی شو که نهٔ؟

ریاض چې یو ډېر ښکلی ځوان، ښه تعلیم یافته، جګ نری، د مور او پلار د سترګو تور او د پنځو ورونو تر ټولو کشر نازولی وروړ وُ. یوه خور ئې درلوده چې هغه ئې هم د ماما و زوی اسفند ته وادهٔ کړې وه.

کله چې ریاض د څوارلسم ډګرۍ تر لاسه کړه نو په یوې پراوئیویټ کمپنۍ کې فیلډ آفسر ولګېدی. خپل د قابلیت له لارې ورځ تر بله د ترقۍ په خوا روان وُ. کله به کراچې کله به اسلام آباد او کله به د مري غوندې ښکلې سیمه کې د ورکشاپ د پاره د کمپنۍ د خوا لېږل کېدی.

کمپنۍ چې وکتل چې ریاض ډېر محنتي او قابل ځوان دی نو ئې د کمپنۍ فنانس (مالیات) آفسر پر چوکۍ کښېنوی. د ټولې کمپنۍ کهاته د دهٔ په لاس کې وه، د ټول تور او سپین مالک وُ، کمپنۍ هم ورځ په ورځ ترقي کوله.

(c) ketabton.com: The Digital Library



یوه ورځ د کمپنۍ جي، ایم (جنرل منېجر) دی خپل دوتر ته را وغوښتی، دۀ ته و وئیل چي "نن نن به تاسو لاهور ته روانېږئ، دا ستاسو ټکټ دی، هلته په لاهور کي ستاسو د استوګني په یوه پر ښه هوټل کي بندوبست شوی دی، سبا ستاسو د مسټر انور سره ما میټنګ فکس کړی دی، هادا فائل واخله، اوس اوس به ئې سټډي کړې، په دې فائل کي هغۀ ټول ډیټېل دي چي د کوم به تاسو په میټنګ کي ډسکس کول وي".

"ضرور سر، تاسو بې فکره شئ". ریاض فائل او لفافه څني واخستله او خپل کیبن ته څني روان شو.

مازدیګر ریاض د کوټي ائیرپورټ ته د دوتر په ګاډۍ کي ولاړی. په جهاز کي کښېنستی او د دوو ساعتو سفر کولو وروسته لاهور ته ورسېدی. ګاډی تیاره ورته راغلې وه، دی ئې سیدها خپل ټاکلي هوټل ته ورسوی. هلته خپلي کمرې ته ولاړی. د لږ آرام کولو وروسته ئې کمرې ته ډوډۍ را وغوښتله. د ډوډۍ خوړلو وروسته ئې د میټنګ فائل را واخستی، ښه ئې سټډي کړی. ګهړۍ ته چي ئې وکتلې نو د شپې یوه بجه شوې وه. فائل ئې د څنګ پر ټیبل کښېښوو ی او ویده شو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



سهار چې را پورته شو نو ئې ځان تیار کړی. ناشته ئې په خپله کمره کې وکړه او د میټنګ په خوا روان شو. د میټنګ ځای هوټل ته نږدې ؤ. د پرون ماخوستن ګاډی ورته راغلې وه. دی ئې د میټنګ ځای ته ورسوی. نیمه ورځ ئې په میټنګ کې تېره کړه. میټنګ ئې ښه کامیاب شو. د هغه ځای چې را ووتی نو ئې په فکر کې د یوه ملګري دا خبري راغلې چې لاهور د حسن ښار دی. په لاهور کې حسن پرېمانه دی. چې څه دي زړۀ غواړي هغه پیدا کېږي په کښې. د ښائستو او تنکیو انجونو کمې نشته. ډېرو خلګو دا تنکۍ غوټۍ حاصلي کړي دي او خپل ټول ژوند ئې ورسره تړلی دی. ډېرو خلګو بیا په لږو پیسو صرف د سات تېري د پاره د دې تنکیو غوټیو خوند اخستی دی.

ریاض اول ځل لاهور ته راغلی ؤ. د حسن و لیدلو ته لېواله شو. زړۀ ئې وغوښت چې د سات تېري د پاره نۀ بلکې که دي د ژوند ملګرتیا د پاره د حسن په بازار کې یوه حسینه تر لاسه کړه نو به دي ژوند هوسا شي.

په ګاډی کې کښېنستی، د ګاډی ډرائیور ته ئې وو ئیل چې "مینار پاکستان ته درځه". هغه هم دی مینار پاکستان ته بوتلی. هلته د مینار پاکستان په سبزه زار کې وګرځېدی. هیڅ یو داسي حسن ئې په نظر نۀ شو

(c) ketabton.com: The Digital Library



چې د دهٔ د زړهٔ تسکین ئې کړی وای. بیا راغی پر یو بینچ کښېنستی. د لارې په آبله خوا مخامخ پر بینچ یوه ښځه ناسته وه. د ریاض چې په کې پام شو نو ښځه ورته لږ غوندې پریشانه ښکاره شوه. چې ښه په غور ئې ورته وکتل نو په څهره کې ئې سترګې ښخې شوې. ډېره ښائسته وه. د حسن یوه مجسمه وه. غټې غټې توري سترګې، تک تور وېښتان، تک سرهٔ لاکن لږ پنډه شونډان. ریاض د دې ښځې په حسن کې لاهو شو، ولاړی وربانده عاشق شو. ریاض د ښځې په حسن کې لاهو ؤ چې د ښځې هم په ریاض کې پام شو نو د لږ ساعت وروسته د خپل بینچ څخه را ولاړه شوه او د ریاض د بینچ په خوا را روانه شوه.

کله چې دا را روانه وه نو ریاض د دې په تک او وجود کې پام شو. په یو داسې انداز کې را روانه وه چې د سرې د وجود ټول وېښتان ورته جګ درېدل. په ډېر نزاکت، په سرو شونډو مسکۍ راغله د ریاض په څنګ کې پر بینچ کښېنستله.

"اسلام علیکم" چې څنګ کښېنسته نو ئې ریاض ته سلام وکړو.

"وعلیکم" ریاض په حیرانۍ کې نیم جواب ورکړو.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"آپ کسی کو ڈھونڈ رہے ہیں؟" ښځي په مسکي شونډو په اردو ژبه پوښتنه څنې وکړه او تکړی ئې لږ د خپل ګرېوان نه لېرې کړو.

ریاض چې د دې ګرېوان ته وکتل چې د قمیض غاړه ئې ډېره لویه وه، تکه سپینه لکه شیدې نیمه سینه ئې ښکاره کېده. د ریاض ژبه ګونګه شوه.

"میں نے آپ سے پوچھا کہ آپ کسی کو ڈھونڈ رہے ہو؟" ښځې دا ځل په داسې انداز کې څنې وپوښتل چې د ریاض د وجود ټول وېښته جګ ودرېدل. ښځې په یوه ګوته د خپلو وېښتو سره لوبې کول پېل کړو او دا بل لاس ئې د ریاض په ځنګانه کښېښودی.

د ریاض په وجود کې لکه کرنټ چې پیدا شي داسې کېفیت خور شو. پر تندي ئې د خولې څاڅکي ښکاره شوې، د سترګو رپ ئې لا ورک شو.

ښځې ورته په ځنګانه یوه چونډکه ورکړه.

ریاض زر بیدار شو، ښځې ورته ووئیل چې "میرے ساتھ چلوگے یا اپنے ساتھ لے جاوگے؟".

ریاض اوس لږ قدرې بیدار شوی ؤ. ځان ئې سره سم کړو، خپل حواس ئې په قابو کې کړل او ورته ئې ووئیل.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ما چې کله ته ولیدلې نو په اول نظر کې درباندې عاشق شوم. ستا تر راتګ پورې ما ته په خپل تصور کې حاصله کړې هم وې، ما ته خپله دنیا هم ګرځولې وې، ما ستا رنګه ښائسته چرته په ژوند هم نهٔ وه لیدلې، واه، د قدرت څومره ښائسته تخلیق ئې. خو افسوس چې تا څوک نهٔ شي حاصلولای. ستا سره عشق لا حاصل عشق دی. زهٔ شاید د دنیا واحد کس یم چې د لږو ساعتو د پاره ستا رښتوني عاشق شوم. لاکن زهٔ دعا کوم چې زما رنګه دې بل څوک دا ستا په شان ښائست باندې عاشق نهٔ شي".

"وہ کیوں؟" ښځې په حیرانتیا کې ځني وپوښتل.

"زما په خیال چې په پښتو پوهېږې؟"

" ہاں میں پشتو سمجھتی ہوں، کیونکہ میرا زیادہ تر تعلق پٹھانو سے ہے"

ښځې په جواب کې راته ووئیل.

" اچھا آپ نے وہ عشق والی بات کیوں کی؟" ښځې وپوښتل.

"هغه په دې چې ته په بني آدم کې لا حاصل بشر ئې. د نرانو و جنسي جذباتو ته تسکین خو بخښلی شې، لاکن و نر ته خپل ټول ژوند او وراثت نهٔ شې ورکولای".

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# لوبته

شاله چې خنګه د دلبر و دکان ته ننوته نو د دلبر پر مخ د خوشحالۍ وړانګې ښکاره شوې. شاله راغله په دکان کې پر یوه پرته چوکۍ کښېنسته. پنځویښت کلنه شاله د دلبر معشوقه وه، معشوقه هم داسې چې هر څه ئې د دلبر نه قربان کړي وو. دلبر هم پر شاله مئین ؤ، خو صرف د شاله پر ښائسته او ځوان بدن. شاله مخامخ ورته په چوکۍ ناسته وه، ټکری ئې په سر ؤ خو نیم، نیغ نیغ ئې دلبر ته کتل چې دا وخت و دوو ښځو ته ئې کپړې (رختونه) ور ښکاره کول. تر اوسه شاله هیڅ یوه خبره نۀ وه کړې، غلې ناسته وه. لږ ساعت وروسته دواړو ښځو دلبر ته روپۍ ورکړې، دلبر کپړې ورته په یوه کڅوړه کې واچولې او ښځې د دکان نه ووتې. شاله زر را ولاړه شوه د چوکۍ نه دلبر ته نږدې پر بینچ کښېنسته. دلبر هم راغی د شاله په څنګ کې کښېنستی، هغه هم دومره نږدې چې د شاله د وږې سره ئې وږه لګېدله. شاله لږ وځکېدله. "دا دومره ورځې چېرې وې ظالمې، خو په انتظار دې ویلې کړم". دلبر ورته په مینه او ګیله منه لهجه کې ووئیل.

"زۀ هم دغه غواړم چې زما په انتظار کې ویلې شې". شاله هم په نخرو کې ورته ووئیلې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"ستا خو ښه ده، خپل عاشق ښه کړه، ته ئې زوروره ئې، ته د هر څه کولو اختيار لرې". دلبر په جواب کي ورته ووئيل.

"په را روانه جمعه زما د ورو واده دی، يو دوې ښې ډ کي جوړې را ښکاره کړه".

دلبر ولاړ شو، د شلف نه ئې درې څلور جوړې کپړې را واخستې چي بېخي ښائستې او ګرانې معلومېدې.

"دا خو ډېري ښائستي جوړې دي، په څو دي؟". شاله پر کپړو لاس تېر کړی او ځني وې پوښتل.

"ستا د پاره دا قيمت نۀ لري، تر تا جار دا جوړې". دلبر په جواب کي ورته ووئيل، د شاله فکر په جوړو کي ؤ خو د دلبر سترګي او فکر د شاله په وجود کي ؤ. شاله غلې وه، دلبر پوه شو چي ګوا نن دي کار جوړ دی، راځه يو وار ئې ښکله کړه.

"شاله!" نن خو مي ارمان را پوره کړه"

"کوم ارمان؟"

دلبر راغی په څنګ کي يې ورته کښېنستی، ور ه ئې د شاله د ورېږ سره لګېدله، شاله خاص باک نۀ په کي ووهی، "يو وار دي ښکلول غواړم". دلبر په داسي انداز کي ورته ووئيل چي شاله لړزوه اره شوه زر

(c) ketabton.com: The Digital Library



لېږ ځني لېري شوه. "دلته؟....یا دلته نهٔ.... بلکې اوس نهٔ، بل وخت."

"بیا کله؟... هر وخت مې لکه کټو پر اور خوټکوې."

د لېږ سوچ کولو وروسته شاله ورته ووئیل" د وادهٔ په ورځ."

"قول دی... بیا خو به انکار نهٔ کوې؟" دلبر ځني وپوښتل.

"زهٔ ټوله تر تا قربان زما جانانه... خو اوس او دلته نهٔ." شاله په جواب کي ورته ووئیل.

"نو بیا چېري به سره وینو؟" دلبر زر ځني وپوښتل او په داسي انداز کي ئې ځني وپوښتل لکه سم د لاسه دي سبا جمعه شي.

"د وادهٔ په ورځ کله چي دوی پر ورا (جنج) ولاړ شي نو به زهٔ دلته راشم، بیا چي چېري ستا خوښه وه هلته به ولاړ شو خو صرف د دوو ګهنټو د پاره." شاله په مسکي کي جواب ورکړو او د تلو د پاره ولاړه شوه. دلبر هم ورسره ولاړ شو. جامې ئې ورته په یوه کڅوړه کي واچولې او رخصت ئې کړه.

د جمعې ورځ شوه.... ماسپښین ورا تیاره شوه.... شاله د ناخوبۍ او ستړیا بهانه وکړه په ورا کي

(c) ketabton.com: The Digital Library



د تلو څخه پاته شوه.... څنګه چې ورا ولاړه نو شاله زر زر ټکری په سر کړی، د کوره ووته او نږدې د ښځو د جامو مارکیټ ته ولاړه. دلبر ورته په انتظار ؤ..... څنګه چې شاله دکان ته راغله نو دلبر په ګیله منه لهجه کې ځني وپوښتل. "څو مره ځنډ دې وکړو؟"

"ورا وځنډېله، زهٔ خو له وخته لا تیاره وم."

جواب ئې ورکړو او راغله پر یوه چوکۍ کښېنسته.

"د کښېنستو وخت نهٔ لرو، ځه چې ځو." دلبر ورته په ولاړه ولاړه ووئیل او د تلو اشاره ئې ورته وکړه.

"چېرې ځو؟"

"ما دیوه ملګرې څخه ګاډی راوستلې ده، ځو چکر وهو بېرته زر راځو."

"داسې نهٔ چې ناوخته شي؟"

"نهٔ ناوخته کېږي، زر راځو، ته‌ٔ درځه." دلبر د تاذیلي په انداز کې ورته ووئیل.

"خو دلې به مجلس وکړو، د دباندې تلو څه ضرورت دی؟". شاله ورته ووئیل.

"تا له ما سره قول کړی ؤ، اوس ګوره بې قولي مهٔ کوه". دلبر په ګیله منه لهجه کې ورته ووئیل.

شاله لږ سوچ وکړو، بیا ئې یوه سړه اسوېلي وکړه او ولاړه شوه "درځه، خو ګوره زر به راځو."

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلبر هم خوشحاله شو، د خُلې نه ئې ووتل "خود، خود، ستا حکم په سر سترګو."

شاله ته ئې ووئیل چې "تهٔ اول دروزه، د مارکیټ دباندې یوه سپینه ګاډۍ ولاړه ده، د هغې سره ودرېږه، زهٔ دکان بندوم درپسې درځم."

شاله هم "سمه ده" ورته ووئیل، مخ ئې په ټکري کې ښه پټ کړی او ووتله ولاړه د مارکیټ دباندې د یوې سپینې ګاډۍ سره ودرېده. لږ ساعت پس دلبر هم راغی. دواړه په ګاډۍ کې کښېنستل. شاله د دلبر سره څنګ کې مخ سیټ کې کښېنسته. دواړو د مینې د راز و نیاز خبرې کولې. لږ ساعت پس ګاډۍ د په یوه سرمایه داره علاقه کې د یوې بنګلې مخته ودرېده. شاله د دلبر څخه په تجسس کې وپوښتل. "دا موږ چېرې راغلو، دا د چا کور دی؟"

"دا مې د یوه ملګري کور دی، هغه اسلام آباد ته تللی دی، بنګله ئې خالي ده چابي ئې ماته راکړې ده." دلبر د دې جواب سره د ګاډۍ نه شېوه شو. د جیب نه ئې چابي را وایستله او د بنګلې دروازه ئې په خلاصه کړه. بېرته راغی ګاډۍ ئې ننباسله. د ګاډۍ نه شېوه شو ولاړی دروازه ئې بېرته بنده کړه. شاله لا هغسې په ګاډۍ کې لږ فکرمنده ناسته وه. دلبر راغی د

(c) ketabton.com: The Digital Library



شاله د خوا د ګاډي دروازه ئې خلاصه کړه "بې غمه راځه، څوک نشته، صرف ما او تا یو." دواړه دننه ولاړل، په ټې وي لانچ کي پر یوه صوفه سره کښېنستل، شاله لږ خوف اخستې وه، دلبر پوهـ شو چي شاله خوفزده ده نو ئې زرد چای او جوس پوښتنه وکړه. شاله د جوس فرمائش وکړو. دلبر ولاړ شو د پخلنځي (کیچن) خوا ته ولاړی. شاله غټ ټکری له ځانه لېري کړو او په غاړه کي ئې پروت نری ټکری ئې په سر کړو. په نوي جامو کي ډېره زیاته ښائسته ښکارېده. هسي هم ډېره ښائسته وه. دلبر هم د دوو ګلاسونو جوسانو سره راغی. څنګه چي ئې پر شاله سترګي ولګېدې نو ئې د بدن ټول وېښتان جګ جګ ودرېدل. وې وئیل "شاله تۀ په دې جامو کي ډېره ښائسته ښکارې".

"د چا تحفه ده، هن؟" شاله په مسکي شونډو د دلبر د تحفې تعریف وکړو. "دا جوسان دي له کومه کړو؟" شاله د جوس ګلاس د دلبر څخه ونیوی او ځني وې پوښتل.

"ملګري مي راته وئیلي وو چي فریج د هر څه خوراکي او څښاکي شیانو څخه ډک دی".

"شاله!"

"هن"

(c) ketabton.com: The Digital Library



"خپل قول خو دې په یاد دی"

"کوم قول؟" شاله په نا انجانه انداز کې جواب ورکړی. دلبر د جوس ګلاس په لاس کې پر صوفه باندې نور هم شاله ته ورنږدې شو. دومره ورنږدې شو چې ورېږه ئې د شاله د وږې سره جنګېدله. شاله هم د جوس یو غوړپ (ګوټ) وکړو. دلبر نېغ نېغ د شاله مخ ته کتل، یو لاس ئې د شاله په غاړه کې ور واچوی په دا بل لاس کې ئې د جوس ګلاس ؤ. شاله د جوس بل غوړپ هم وکړو. دا سې ئې نیم ګلاس جوس تمام کړو، دلبر ترا وسه یو غوړپ جوس هم نهٔ ؤ څښلی. دلبر و شاله ته نور ورنږدې شو، د شاله پر سرو نریو شونډو باندې ئې خپل په برېتو کې پټ شنه شونډان کښېښوول. دې ښکلول د شاله وجود ډهیله غوندې کړو او د دلبر په وجود کې ئې یو نادیده حرارت پیدا کړو. دا عمل څو ځلې تکرار شو، دې ځلې د دواړو شونډې یو د بل سره پیوست شوې، د دلبر لاس د شاله پر سینو وموښتی او د شاله سترګې چې سرې بخونې اوښتې وې به یو وار بندې او بیا خلاصې شوې.

د دلبر حال اوس داسې ؤ چې بالکل د ټینګېدو وتلی ؤ. نرینه شهوت ئې په واک کې نهٔ ؤ. د دواړو شونډې او وجودونه یو د بل سره پیوست وو. شاله

(c) ketabton.com: The Digital Library



اوس په خپل سود کي نهٔ وه، هغه مکمله د دلبر په غېږ کي لکه يوه لوبته پرته وه. د دلبر لاسونه او شونډي دوارهٔ د شاله د وجود په مښلو او ځبېښلو کي پوره پوره سرګرم عمل وو. حتی چي کوم ارمان د دلبر ؤ هغه پوره شو، د خولو ډک پک يوې خوا ته پر صوفه پرېوتی، پورته ئې چت ته رډ رډ کتل او غتي غتي ساهوي ئې اخستې. د دهٔ ارمان د شاله د رضا بغېره پوره شو. ولي چي شاله دا وخت بې سوده وه. د تل د پاره بې سوده وه. هغه يوه لوبته وه چي دا وخت د لبر د لوبو تسکين ئې کاوی. کله چي د دلبر شهوت ښه سوړ شو نو شاله ئې وښوروله، هغې ته ئې ږغونه وکړل لاکن د شاله د خُلې هيڅ ږغ نهٔ راوتو، دلبر پوهـ شو چي په شربت کي رانه د نشې دوا زياته شوې وه، لږ ساعت پس به په سود کي راشي. لاکن هغه لږ ساعت تر نيمي شپې ورسېدی. دلبر ډېري هڅي وکړې چي شاله په سود کي راولي، خو شاله په سود کي نهٔ راغله، هغه به ولي په سود کي راتله، هغه د تل لپاره بې سوده شوې وه، د يوې لوبتي په شان چي نهٔ خندېدی شي، نهٔ ژړېدی شي، نهٔ ږغېدی شي، نهٔ اورېدی شي، نهٔ ګرځېدی شي او نهٔ کښېنستی شي. بس پرته وي د ماشومانو په غېږ کي. هغه که هر څه باندي کوي کولای ئې شي.

(c) ketabton.com: The Digital Library



دلبر پوه شو چي شاله د تل لپاره بې سوده شوې ده. اوس لار ځني ورکه وه، هر څه سوچ چي ئې وکړو خو په یوه نتیجه نهٔ رسېدی. په ډېره پرېشانۍ کي ئې پر ځان لعنتونه وئیل، خپل د سر وېښتان ئې شکول خو هیڅ فائده ئې نهٔ وه.

ناڅاپه ئې په دماغ کي یو شیطاني خیال راغی. د شاله بې سوده وجود ئې د ګاډۍ په ډیکۍ کي واچوی، و بنګلې ته نږدې د غرهٔ په خوا ئې ګاډۍ روانه کړه. هلته ئې په یوه ژوره کنده کي د دې بې سود وجود وغورځوی او په تاذیله د هغه ځای نه د ښار نما خپلې علاقې خوا ته راغی.

څو ورځي تېري شوې، د یوه شپانه په اطلاع د شاله ورونهو د پولیس په مدد په هغه ژوره کنده کي د شاله په وینو لړلي شلېدلي جامې او سینډل وموندل. ټول وجود ئې د غرو ګیدړانو او چغالانو خوړلی ؤ. اوس د شاله وجود هغه لوبته هم نهٔ ؤ پاته. د جامو او سینډلو په مدد سره د کور خلګو د شاله مړی وپېژندی. د سر کهوپړۍ او څو نور هډونه ئې په یوه بوجۍ کي واچول را ئې وړل کلي ته. بیا ئې د کلي په هدیره کي دا بوجۍ خاورو ته وسپارله. د شاله په کور کي تر ډېرو ورځو د ښځو له خوا د غم ماتم کېدی. د فاتحې کمبلې

(c) ketabton.com: The Digital Library



خـوري وي، خلـک تلـل راتلـل، دعاګـاني پســي کيـدي، ځوانـان لګيـا وو دعـا تـه راغلـو خلګو خدمتونـه ئـې کـول، دلبـر هـم لګيـا ؤ و راغلـو خلګـو تـه ئـې يـخ يـخ شـربت ورکولو او د خلګو تنده ئې ور ماتوله.

〇〇〇〇〇〇

(c) ketabton.com: The Digital Library



# نخښه

د ډاکټرانو د رپورټ مطابق د شمۍ په غونډه پښه کې د مردار زخم په وجه د کینسر جراثیم خور شوي وو. اوس به دا پښه پوره له بېخه پرېکول غواړي. ګنې دا جراثیم به پورته په ټول وجود کې خور شي. شمۍ له تېرو دوو هفتو په شوکت خانم هسپتال کې داخله وه. د غړي د زخم د خرابېدو په وجه د هغې ټوله پښه سر تر پایه پړسېدلې او تکه شنۀ اوښتې وه. حالانکې په سر سر کې دا یو معمولي زخم ؤ. دا سې زخمونه اکثره زر جوړ شي او داغ ئې هم ولاړ شي. لاکن د شمۍ بدبختي وه که د هغې د شوګر ناروغي وه چې معمولي زخم ئې په یو نۀ جوړېدونکي ناسور بدل شو.

خان اکبر چې د شمۍ خاوند ؤ نۀ پوهېدی چې دا زخم د شمۍ پر غړي څنګه جوړ شو. دوی له کوټې څخه دوې هفتې مخ کې لاهور ته د شمۍ د علاج د پاره راغلي وو. د کوټې ډاکټرانو و شمۍ ته جواب ورکړی ؤ او د شوکت خانم کینسر هسپتال لاهور ته د تلو مشوره ئې ورکړې وه.

شمۍ چې د خپل خاوند خان اکبر سره ئې د وادۀ پنځلس کاله تېر کړي وو، ښلو ښت کلنه چاغه، غنم رنګې او د جګ قد خاونده ښځه وه. یو زوی لس کلن، دوې لوڼې اتۀ او شپږ کلنې ئې درلودې. خاوند خان اکبر به هر وخت په سفر

(c) ketabton.com: The Digital Library



ؤ. د لارۍ ډرائیورؤ نو پر کور به ډېر کم ؤ. په دوو هفتو کي به یوه یا دوې شپې کورته راغی، بیا به نوري ورځي د ملک په بېلا بېلو سیمو کي به ئې د مسافرۍ شپې سبا کولې.

د خان اکبر یو ځوان، جره، دېرش کلن گاونډی لطیف چي د خان اکبر په غیر موجودگۍ کي د دهٔ د کور د باندي ضروریات به ئې ورپوره کول، د شمۍ سره ئې ښه ناسته پاسته جوړه کړې وه. ښه سرکاري نوکري ئې درلوده، ښې پیسې ورسره وې، هر وخت به ښه تیار گرځېدی. لطیف د خان اکبر په مخ کي کوچنی را لوی شوی ؤ، پر لطیف ئې ډېر اعتماد او باورؤ، لطیف به هم د خان اکبر ډېر عزت کاوه.

شمۍ چي له ډېره موده ئې د لطیف سره په زړهٔ زړهٔ کي په شدت سره مینه درلوده او په خُله ئې ورته نهٔ شو وئیلای یوه ورځ چي خان اکبر په مسافرۍ تللی ؤ لطیف د حال احوال د پاره د خان اکبر کورته راغی. ماشومان ټول سکول ته تللي وو، شمۍ په کور کي یوازي وه، داسي نهٔ چي دا د لطیف اول ځل ؤ چي شمۍ په کور کي یوازي وي او دی دي راشي. خو نن شمۍ ورته ځان ښه سینگار کړی ؤ، لطیف ئې په خپله کوټه کي پر پلنگ کښېنوی، دا ورسره په څنگ کي کښېنسته، لطیف ته ئې په مینه ځیر ځیر کتل، لطیف اول خو سم نهٔ پوهېدی او لږ وار خطا غوندي ؤ لاکن لږ ساعت وروسته ئې سر خلاص شو چي د شمۍ څهٔ اراده ده. شمۍ

(c) ketabton.com: The Digital Library



ورته د خپلي ميني اظهار وکړی او لطيف هم د خپل هوس د سړېدو د پاره "هو" وکړه.

لطيف جره ځوان، وينه ئې توده او شمۍ تجربه کاره.

دواړه په مينه کي دومره غرق ول چي شمۍ خپل ټول وجود و لطيف ته ورسپارلی ؤ او لطيف د شمۍ د وجود د هر اندام نه خوند اخستل خپل حق ګڼلی ؤ. لطيف د تُندي ځوانۍ په جوش کي د شمۍ پر چاغ او لوڅ غړي خُله کښېوده او دومره په شدت سره ئې غاښ پر ولګوی چي د شمۍ د خُلې نه د درد د شدت په وجه يوه داسي چغه ووته لکه يو څوک چي بل کس په چاړه ووهي.

شمۍ لطيف يوې خوا ته پوري وهی، کښېنسته او خپل غړي ته ئې په ځير وکتل، پر غړي ئې د وينو د څاڅکي په شان تک سرۀ، د غاښو نشانونه ول، شمۍ په ګيله منه او ژړغوني انداز کي لطيف ته ووئيل. "ولي ظالمه! داسي څوک کوي؟"

لطيف په مسکي کي ورته جواب ورکړو چي "دا زما د ميني نخښه ده، دا به تر مرګه ستا پر غړي وي."

په دا بله ورځ د شمۍ د پښې د پرېکولو نېټه وټاکل شوه. د شپې د پښې د درد د شدت په وجه شمۍ پور پرېکړی او د لطيف د ميني نخښه ئې د تل د پاره د ځان سره ګور ته يووړه.

○○○○○○

(c) ketabton.com: The Digital Library



# ويلن

ما چې د هغهٔ سترګي وليدلې نو وډار شوم. تکې سرې، پړسېدلي، اوږده اوږده برېتونه، وېښتان ئې هم له اندازې اوږده وو. په لاس ئې د ګهړۍ پر ځای رنګارنګ سپينسي راتاؤ کړي وو، يوه پانچه (پائڅه) ئې کښته او دا بله ئې پورته وه، څادر لړ په وږه او زيات په ځمکه پروت، سګريټ په لاس کښې، د ګريوان تڼۍ ئې خلاصي، په غاړه کي ئې لاکټان ځوړند، ببره سينه، په غوږ کي ئې د لمر ګل ټومبلی زما مخې ته راغی لکه دی چي د دې علاقې، کلي شوده (بدمعاش) وي.

"څوک ئې او دلته څهٔ کوې؟" دې شوده رانه په داسي اندازکي پوښتنه وکړه لکه، تهٔ وائې دی به د پښتو فلمانو هيرو وي.

"زهٔ دلته د يو ملګري کورته روان يم". ما ورته ښه په شرافت او اخلاق جواب ورکړو.

"ځهٔ چي بيا دي دلته ونهٔ وينم، ګني "هاهاهاهاهاها". د لاس د ګوتو نه ئې توپنکچه جوړه کړه، ښه په رعب داره آواز او کړس کړس خندا ئې راته ووئيل، ناڅاپه ئې په يو ډېر ښکلي کم عمر هلک سترګي ولګېدې، ماته ئې ووئيل چي " زما

(c) ketabton.com: The Digital Library



کوکو راغی ګنې نن به ته راڅخه ژوندی نهٔ وای تللی، هاهاهاها " دا ئې ووئیل او د هغه ښکلي کم عمر هلک په خوا روان شو.

زهٔ هم د ملګري کورته روان شوم او د ځان سره مې فکر وکړو چې دا بیا څهٔ بلا ؤ؟ دا څنګه حرکت ئې وکړو. خو خیر، زهٔ د ګل خان کورته ورسېدم هغه سره مې علیک سلیک وکړو او ورسره په حجره کې کښېنستم. د ډوډۍ خوړلو په وخت راته یاد شو چې تاخو یو هیرو په لاره لیدلی ؤ.

"یاره ګل خانه! دلته په لاره کې مې یو ځوان ولیدو، سم د ځانه ئې حسن سواتی (د پښتو فلمانو هیرو، ویلن) جوړ کړئ ؤ. ماته ئې ووئیل چې چېرې ځې؟ ما جواب ورکړو چې د ملګري کورته. نو په ښه بارعب انداز کې ئې راته ووئیل چې ځهٔ، بیا دې دلته ونهٔ وینم، خدای دې د هغه تنکي ښکلي هلک سره ښه وکړي، که هغه هلته نهٔ وای ښکاره شوای نو خدای خبر چې دې ځوان به له ما سره څه کړي وای".

ما چې خبره پوره کوله نو ګل خان په کړس وخندل، زهٔ ئې حیران کړم چې دا ولې خاندي؟ خو بېرته ئې زر د خُلې او د څهرې نه خندا او د خندا آثار داسې ورک شول لکه د کوچ نه چې وېښته وباسې.

(c) ketabton.com: The Digital Library



"یاره زړګیه! دا هیرو نهٔ دی، خو د هیرو ګیري په وجه ئې خپله مور مړهٔ کړه.

"مور مړهٔ کړه؟" زهٔ ئې هک پک حیران کړم.

"هو، مور".

"څنګه؟"

"هغه داسې چې د ځوان د پښتو فلمونه ډېر کتل، بیا یو ورځ دهٔ یو داسې فلم اوکتو چې په هغه کې هیرو خپله مور مړهٔ کړي. دا خبره وه چې دا ځوان کله کورته راغی نو مور ئې کتغ نهٔ وُ پخ کړی، پخوو به ئې څنګه؟ د پیسو درک نهٔ وُ، ځوان زوی ئې ټوله ورځ په سینماګانو کې ورک وُ، ښکلو تنکیو هلکوانو پسې به ټوله ورځ ګرځېدو. خبره دومره وه چې د ځوان دوه ډزه (مرمۍ) خپله مور وویشته. څو ورځې ورک وُ، خو بیا بېرته را پیدا شو، خېل او خپلوان هیڅ نهٔ ورته وائي. اوس ئې د ماغ کار نهٔ کوي، که کوي نو صرف داسې چې دی هیرو دی او هر یو انسان ورته ویلن ښکاري. چېرته چې یو ښکلی هلک ویني نو ورپسې شي. د کلي د ماشومانو ښه سات په تېر دی".

ګل خان چې دا کیسه راته وکړه نو د وجود ټول وېښتان مې جګ ودرېدل، ما ورته وئیل چې "دا خو هیرو نهٔ دی، دا خو ویلن دی. که تاسو هیرو ورته

(c) ketabton.com: The Digital Library



وایاستنو دا تاسو د هغې سپین سري سره بد کوئ کومه چې د دهٔ غوندي بې غیرت انسان د لاسه له دې دنیا نه ولاړه."

○○○○○○

# پای

**Get more e-books from www.ketabton.com**
**Ketabton.com: The Digital Library**